

# د دولسو هفتو

# د پاره بائبل مقدس ته د کتلو

# او د شاګردئ کورس

# د دولسو هفتو

# د پاره بائبل مقدس ته د کتلو

# او د شاګردئ کورس

چاپ ۲۰۰۸

## دا كار هغو ټولو ته وقف دے

څوک چې د خدائ د کلام فرمانبرداری کوی او هغه د زړۀ له کومی نه ازده کوی ورسره مینه کوی او عمل پری کوی.

# فهرست

پیژندګلو ............................................ ۱

د دِ مطالعی مقصدونه دا دی چی: ........................ ۱

د کورس بنیادی رهنمائ ................................ ۴

اوله هفته : پیدایښت.................................... ۷

دویمه هفته : بزرګ ...................................۱۴

دریمه هفته : هجرت ...................................۲۱

څلورمه هفته : برے ...................................۲۹

پینځمه هفته : قاضیان..................................۳۶

شپږمه هفته : بادشاهی..................................۴۳

اوومه هفته : شړل ................................... ۵۰

اتمه هفته : واپسی .................................. ۵۷

نهمه هفته : خاموشی...................................۶۴

لسمه هفته : زیرے ...................................۷۱

یولسمه هفته : جماعت ..................................۷۹

دولسمه هفته : تبلیغ...................................۸۷

**ضمیمه:۱ : د بائبل مقدس د سیپارو نومونه ......................۹۶**

**ضمیمه:۲ : د هری هفتی سرنامی او نومونه.......................۹۸**

**ضمیمه: ۳ : د بائبل مقدس د آیتونو اِزده کول.......................۹۹**

# پیژندګلو

مونږ تاسو ته هر کلے وایو! دا کتاب به تاسو ته د پوره بائبل مقدس یعنی د زړی او نوی لوظ نامی یو عکس څرګند کړی. دا کتاب په داسی طرز جوړ شوے دے چی عام خلق پری پوهه شی چی د پوره بائبل مقدس ټولی سیپاری څنګه د یو بل سره تړون لری. په بائبل مقدس باندی د ښۀ پوهیدلو د پاره سیپاری په وړو وړو برخو کښی د اندازی او د وخت د مناسبت په مطابق تقسیم کړے شوی دی. مونږ به نۀ صرف د بائبل مقدس د سیپارو نومونه او تقسیمول زده کوو بلکه دا هم چی دا په تاریخی لحاظ سره څنګه تعلق لری. د دولسو هفتو دا کورس هره هفته په یو موضوع باندی غور کوی.

مونږ ټول قیصی خوښوو، او د نورو خلقو د ژوند نه د ژوندون سبق زده کوو. بائبل مقدس د ښځو او د سړو د قیصو نه ډک دے چی خدائ پاک غوره کړی او استعمال کړی وو. خدائ پاک د دوئ ژوند استعمالوی چی مونږ ته د خپل ځان پحقله ښودنه وکړی او دا چی مونږ له څنګه ژوند تیرول پکار دی. د دِ مطالعی په دوران کښی به هره هفته مونږ د دِ شخصیتونو نه د یو مطالعه کوو. مونږ به د هغوی قیصئ لولو، د هغوی تاریخی ځائ ته به ګورو، د هغوی د ژوندون د غټو غټو واقعو مطالعه به کوو، د هغوی د خدائ پاک سره او د نورو سره د تعلق په حقله به زده کوو او پوهه به حاصلوو د هغوی د ایمان نه په خبرو اترو کښی او په عمل کښی. او بیا به مونږ د دِ جوګه شو چی فکر وکړو چی مونږ څۀ زده کړی دی او په خپل روزمره ژندون کښی دا په عملی توګه خپل کړو.

## د دِ مطالعی مقصدونه دا دی چی:

۱. د بائبل مقدس د سیپارو نومونه او پیدا کول اِزده کړو.

۲. هغه برخی ازده کړو کومو کښی چی د بائبل مقدس سیپاری تقسیم شوی دی.

۳. په دِ پوهه شو چی د بائبل مقدس سیپاری په تاریخی لحاظ سره پخپله کښی څنګه تعلق لری.

۴. د بائبل مقدس په تاریخ باندی پوهه لرل.

۵. په دِ پوهیدل چی په بائبل مقدس کښی اهم واقعی او لویٔ شخصیتونه چرته پیدا کیږی او دوی په تاریخی لحاظ سره پخپله کښی څنګه تعلق لری.

٦. د بائبل مقدس نه غوره کړے شوو شخصیتونو قیصی زده کړو.

۷. د دِ شخصیتونو د قیصو نه اخستے سبق په خپل ذاتی ژوند کښی په عملی توګه خپل کړو.

۸. د هری برخی نه مُنتخب کړے شوی آیتونه په یاده یاد کړو.

۹. دا سبقونه نورو ته د ښودلو د پاره اِزده کړو.

اِزده کړی دا سبقونه په مختلفو حالاتو کښی استعمالیدے شی. یو استاذ او شاګرد دا استعمالولے شی، یو طالب علم یواځی یا دوه طالب علمان هم دا اِزده کولے شی خو ښهٔ به دا وی چی د یو وړوکی ټولګی په شکل کښی د دِ مطالعه وشی. نو داسی به طالب علمانو ته موقع ملاویږی چی یو بل ته د هغی په حقله د خپلو خیالاتو اظهار وکړی څهٔ چی هغوی اِزده کوی.

کله چی به مونږ د خدایٔ پاک د کلام نه تیریږو، نو مونږ به پکښی بی اندازی حیرانکن تاریخ، خلق او واقعی چی په بائبل مقدس کښی پیښی شوی دی وګورو. خو تاسو همت مهٔ بائیلیٔ! د خدایٔ پاک او د هغهٔ د کلام په حقله زده کړه د ټول ژوند سفر دے. دا سبقونه خو یی صرف شروعات دی، او د آئنده د سبقونو د پاره بنیاد دے. دا نهٔ صرف حقیقت او معلومات دی چی د کومو نه مقدس کتاب پاڼری ډکی دی په حقیقت کښی دا ژوندے کلام دے چی په هر یو ایماندار کښی اوسیږی او د هغهٔ ځان قائم ساتی. "ځکه چی د خدائی کلام ژوندے او اثرناک او د هری یوی دوه مخی توری نه زیات تیرهٔ دے،چی د اِنسان د ځان او رُوح نه تیریږی او اندام اندام او مغز مغز جدُا کوی او د زړهٔ په خیالونو او ارادو تحقیق کوی." (عبرانیان ۴ : ۱۲.)

# د هری هفتی د شخصیت او د موضوع خلاصه

| | | |
|---|---|---|
|  | پیدایښت | حضرت آدم |
|  | بزرګ | حضرت ابراهیم |
|  | هجرت | حضرت موسیٰ |
|  | برے | حضرت یشوع |
|  | قاضیان | حضرت جدعون |
|  | بادشاهی | حضرت داؤد |
|  | شړل | حضرت دانی |
|  | واپسی | حضرت نحمیاه |
|  | خاموشی | (بیا کتل) |
|  | زیرے | حضرت عیسیٰ |
|  | جماعت | پطروس رسول |
|  | تبلیغ | پولوس رسول |

# د کورس بنیادی رهنمائ

د هری هفتی سبق په پینځو برخو کښی تقسیم شوے دے، چی ترتیب وار به وی. پرواه نشته چی تاسو هر څومره تعلیم کړے وی، دا لاندی درج کړے شوی برخی به ستاسو مدد وکړی چی په مطالعه کولو باندی تاسو ښۀ پوه شئ.



## اوله برخه: دوباره کتل

د وړومبئ هفتی نه پس به په هره هفته کښی یوه برخه د تیر شوی سبق ته د دوباره کتلو د پاره وی. دا به یوه ښۀ موقع وی چی تاسو وګورئ چی تاسو څومره اِزده کړه کړی ده.



## دویمه برخه: ازده کول

د بائبل مقدس د سیپارو تفصیل اِزده کړئ. د سیپارو نومونه، د بیلو بیلو برخو نومونه چی بائبل مقدس پکښی تقسیم کړے شوے دے، د بائبل مقدس په هر یو تقسیم کښی د واقعو ترتیب او بنیادی جغرافیه اِزده کړئ.



## دریمه برخه: تلاوت

هغه آیتونه ولولئ چی د یوی هفتی د سبق سره تعلق لری. د بائبل مقدس نه د غوره کړے شوو شخصیتونو مطالعه وکړئ. د هر یو کس په حقله یوه وړه سرنامه ولولئ، هغه اهم واقعی چی د هغوی په ژوند کښی شوی دی، د هغی مطالعه وکړئ او خبری اتری پری وکړئ چی هغوی څنګه خپل ایمان څرګند کړے وو او کومو ځایونو کښی ناکام شوی وو.



## څلورمه برخه: خبری اتری

بیان کړه چی د بائبل مقدس د دِ شخصیتونو ژوند په تاسو او ستاسو په حالاتو کښی څنګه په عملی طور سره راتلے شی.



## پینځمه برخه: په یاده یاد کړئ

د هر سبق آیت په یاده یاد کړئ او په راتلونکی هفته کښی د هر یو آیت ګردان وکړئ.



# اوله هفته : پیدایښت



## بیا کتل

دا زمونږ د دولسو هفتو د مطالعی وړومبنۍ هفته ده، ځکه مونږ سره به د بیا کتلو د پاره مواد نۀ وی، خو بیا هم راځئ چی مونږ د دولسو هفتو د هری یوی سرنامی ولولو، خبری اتری پری وکړو او په یاده یی یاد کړو. هغه سرنامی دا دی.

| | | |
|---|---|---|
|  | پیدایښت | حضرت آدم |
|  | بزرگ | حضرت ابراهیم |
|  | هجرت | حضرت موسیٰ |
|  | برے | حضرت یشوع |
|  | قاضیان | حضرت جدعون |
|  | بادشاهی | حضرت داؤد |
|  | شړل | حضرت دانی ایل |
|  | واپسی | حضرت نحمیاه |
|  | خاموشی | (بیا کتل) |
|  | زیرے | حضرت عیسیٰ |
|  | جماعت | پطروس رسول |
|  | تبلیغ | پولوس رسول |



# زده کړه

دا معلومات د دې په حقله دی چی په بائبل مقدس کښی څومره سيپاری(کتابونه) دی او دا څنګه تقسيم شوی دی. اولنے تقسيم د زړی لوظ نامی او د نوی لوظ نامی تر مينځه دے.

په زړی او نوی لوظ نامی کښی د سيپارو شمير

- زړه لوظ نامه ۳۹
- نوی لوظ نامه ۲۷
- د سيپارو غونډ شمير٦٦

زړه لوظ نامه د بائبل مقدس د ټولو نه غټه برخه ده. زړه لوظ نامه په دريو برخو کښی تقسيم شوی ده. يعنی تاريخی، شاعری، او پيشن ګوئی. د هری سرنامی لاندی کيدے شی چی نور تقسيم هم وی. او هر يو تقسيم د زړی لوظ نامی د سيپارو نومونه لری. د زړی لوظ نامی د سيپارو نومونه او د هغی د تقسيم مطالعه وکړئ او په ياده يی ياد کړئ.



## په زړه لوظ نامه کښی تقسیم او د سیپارو نومونه

| پیشن گوئی ۱۷سیپاری | | | شاعری (۵ سیپاری) | | تاریخی ۱۷ سیپاری |
|---|---|---|---|---|---|
| لوئ پیغمبران | | یسعیاه | ایوب | تورات | پیدایښت |
| | | یرمیاه | زبور | | هجرت |
| | | نوحه | امثال | | احبار |
| | | حزقی ایل | واعظ | | گنتی، شمیر |
| | | دانی ایل | غزلُ الغزلات | | استثنا |
| په رُتبه کښی د نورو نه لږ واړهٔ پیغمبران | | هوسیع | | تاریخی سیپاری | یشوع |
| | | یوایل | | | قضاة قاضیان |
| | | عاموس | | | روت |
| | | عبدیاه | | | ۱-سموئیل |
| | | یوناه | | | ۲-سموئیل |
| | | میکاه | | | ۱-سلاطین بادشاهان |
| | | ناحوم | | | ۲-سلاطین بادشاهان |
| | | حبقوق | | | ۱-تواریخ |
| | | صفنیاه | | | ۲-تواریخ |
| | | حجی | | | عزرا |
| | | زکریاه | | | نحمیاه |
| | | ملاکی | | | آستر |

## پیدایښت



**تاریخ** : تقریباً ۴۰۰۰ نه ۲۱۰۰ پوری
د عیسیٰ مسیح نه مخکښی.

**اهم واقعی** : حضرت آدم وړومبنے انسان دے. قیصه : خدای پاک حضرت آدم او بی‌بی حوا په خپل شکل جوړ کړل. د حضرت آدم او بی‌بی حوا د نافرمانئ په سبب لعنت رانازل شو. او د دِ په وجه مونږ باندی وبا راغله چی پکښی مرګ، او د انسان او د خدائ پاک تر مینځه جدائی شامل دی.

**لنډه دا چی** : ۱. خدائ پاک انسان جوړوی. ۲. او د انسان په وسیله ګناه دنیا ته راغله. ۳. په دنیا کښی سیلاب وو خو حضرت نوح او د هغهٔ کورنئ خدائ پاک بچ کړل. ۴. د بابل برج، په ژبو کښی د بدلون په وجه خدائ پاک ټول بنی نوع انسان جدا کړل.



## تلاوت

اولنے شخصیت د حضرت آدم دے چی مونږ به یی مطالعه کوو. حضرت آدم اولنے انسان وو چی خدائ پاک جوړ کړے وو، خو مونږ د خدائ پاک په حقله او د حضرت آدم د پیدایښت په حقله کوم اهم معلومات حاصلولے شو او دې سره سره چی د هغهٔ په ژوند کښی یی مقصد ولرلو؟ اول د حضرت آدم په حقله د پیدایښت په سیپاره کښی دا لاندی ورکړے شوی آیتونه ولولئ.

د پیدایښت سیپاره اول نه دریم باب پوری ولولئ

**حضرت آدم** "انسان"

## ۱. پس منظر

پیدایښت ۱: ۲٦ - ۳۱، پیدایښت ۲ : ۷.

خدائ پاک اولنے انسان حضرت آدم په خپل شکل پیدا کړو چې د هغې مطلب دا دے چې انسان د خدائ پاک د اخلاقو او د فطرت په شان جوړ شوے وو. انسان په کائناتو باندی حکومت کولو او د خدائ پاک سره رفاقت لرلو د پاره جوړ شوے وو. په شروع کښې حضرت آدم بې ګناه وو خو وروستو بیا هغه ګناهګار شو.

## ۲. اهم واقعې

- خدائ پاک حضرت آدم جوړ کړو. پیدایښت ۲: ۷
- د حضرت آدم حکومت کول او د کائناتو خیال ساتل. پیدایښت ۲: ۱۵ - ۲۰
- بی‌بی حوا د حضرت آدم د پاره جوړه شوی ده. پیدایښت ۲: ۲۱ - ۲۳
- حضرت آدم او بی‌بی حوا ګناه وکړله او د باغ عدن نه وشړلے شول. پیدایښت ۳

## ۳. حضرت آدم چرته خپل ایمان ښکاره کړے وو

- هغه کار چې حضرت آدم کړے وو په هغې کښې هغه د خدائ پاک سره وفادار پاتې شو. پیدایښت ۲: ۱۵ - ۲۰

## ۴. ناکامی/کمزوری

- خدائ پاک په وړاندې د حضرت آدم نافرمانی کول. پیدایښت ۳: ٦ - ۷

## ۵. مثالونو پسې تلل

- د خدائ پاک د نافرمانئ انجام —— د بنی آدم او د خدائ پاک په مینځ کښې جدائی.

- بیا هم حضرت آدم توبه وویستله او دا یقین یی وساتلو چی خدائ به هغه معاف کړی.
- حضرت آدم په هغه کار کښی وفادار پاتی شو کوم چی خدائ پاک هغهٔ له ورکړے وو.



## خبری اتری

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانی

۱. د حضرت آدم د یوی خوښی په وجه په مونږ ټولو باندی اثر پریوتو. نو آیا زمونږ خوښه په مونږه یا په نورو څهٔ اثر کوی؟

۲. کهٔ چری مونږ د خدائ پاک د کلام نافرمانی کوو نو په مونږ باندی څهٔ چل کیږی؟

۳. خدائ پاک حضرت آدم سره مخامخ خبری وکړی. نن سبا مونږ سره خدائ پاک څنګه خبری کوی؟

۴. زمونږ په ژوند کښی یا زمونږ په معاشره کښی کوم هغه کارونه دی چی مونږ یی د خدائ پاک د فرمانبرداریٔ د پاره کوو؟

۵. آیا خدائ پاک حضرت آدم معاف کړو او برکت یی ورکړو؟ خدائ پاک نن مونږه څنګه معاف کوی او مونږ له برکت راکوی؟

**راتلونکی هفتی د پاره د پیدایښت دولسم نه پینځهٔ ویشتم باب پوری تلاوت وکړئ.**

# په یاده یاد کړئ

د اولنئ هفتی د بائبل مقدس آیت:

" لکه څنګه چی ټول خلق چی د آدم اولاد دی، مری، هغه شان څوک چی
د مسیح دی ټول به ژوندی کړے شی." اول کورنتیان ۱۵: ۲۲

# دویمه هفته : بزرګ



## بیا کتل

د تیری شوی هفتی سبق دوباره کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | حضرت ابراهیم |
|  | | حضرت موسیٰ |
|  | | حضرت یشوع |
|  | | حضرت جدعون |
|  | | حضرت داؤد |
|  | | حضرت دانی ایل |
|  | | حضرت نحمیاه |
|  | | (بیا کتل) |
|  | | حضرت عیسیٰ |
|  | | پطروس رسول |
|  | | پولوس رسول |

د دولسو هفتو د پاره بائبل مقدس ته د کتلو

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چی په خپلو کښی تړون لری.

۲. په کتاب مقدس کښی څو سیپاری دی؟ په زړه لوظ نامه کښی او نوی لوظ نامه کښی څوڅو سیپاری دی؟

۳. په زړه لوظ نامه کښی د دریو برخو نومونو واخله.

۴. د حضرت آدم د ژوند په حقله یو څو څیزونو باندی خبری وکړه.



## زده کړه

تیره هفته تاسو زده کړی وو چی زړه لوظ نامه څنګه تقسیم شوی وه. هغه تقسیم ته دوباره وګورئ.



# په زړه لوظ نامه کښې تقسیم او د سیپارو نومونه

**تاریخی ۱۷ سیپاری**

- پیدایښت
- هجرت
- احبار
- ګنتی، شمیر
- استثنا

} تورات

- یشوع
- قضاة  قاضیان
- روت
- ۱-سموئیل
- ۲-سموئیل
- ۱-سلاطین بادشاهان
- ۲-سلاطین بادشاهان
- ۱-تواریخ
- ۲-تواریخ
- عزرا
- نحمیاه
- آستر

} تاریخی سیپاری

**شاعری (۵ سیپاری)**

- ایوب
- زبور
- امثال
- واعظ
- غزلُ الغزلات

**پیشن ګوئی ۱۷سیپاری**

- یسعیاه
- یرمیاه
- نوحه
- حزقی ایل
- دانی ایل

} لوئ پیغمبران

- هوسیع
- یوایل
- عاموس
- عبدیاه
- یوناه
- میکاه
- ناحوم
- حبقوق
- صفنیاه
- حجی
- زکریاه
- ملاکی

} په رُتبه کښې د نورو نه لږ وارۀ پیغمبران



## بزرګ

**تاریخ** : تقریباً ۲۰۰۰ کاله نه ۱۸۰۰ کاله پورې
د عیسیٰ مسیح نه مخکښې.

**اهم واقعې** : د پیدایښت په کتاب کښې لکه د حضرت ابراهیم علیه لسلام، حضرت اضحاق، د حضرت یعقوب او د هغهٔ د دوو زامنو په شان د ډیرو عظیمو پیغمبرانو ذکر شوے دے. مونږه د هغوی د عقیدی او د ایمان په حقله زده کړه کوو چې د هغوی په واحد خدائ باندی وو، د هغوی ناکامی، او د خدائ پاک وفاداری او هغه وعدی چې خدائ پاک د هغوی سره کړې وی.

**لنډه دا چې** : ۱. حضرت ابراهیم د عبرانیانو او د هغه ټولو پلار دے څوک چې یقین لری. ۲. اضحاق د دوو زامنو پلار. ۳. حضرت یعقوب د اسرائیلیانو پلار. ۴. حضرت یوسف په مصر کښې.



## تلاوت

دویم شخصیت د حضرت ابراهیم دے چې مونږ به یی مطالعه کوو.حضرت ابراهیم ته د ایمان پلار وئیلے شی ځکه چې هغهٔ په خدائ پاک او د هغهٔ په وعدو یقین لرلو. حضرت ابراهیم هم د هغهٔ د ایمان په وسیله صادق کنړلے شو، او کله به چې هغه په امتحان کښې پریوتو نو هغهٔ به په خدئ پاک باندی اعتماد کولو او د هغهٔ حکمونه به یی منل.

د پیدایښت ۱۲، ۲۱ او ۲۲ بابونو تلاوت وکړئ

# حضرت ابراهیم

## ۱. پس منظر

ابرام/حضرت ابراهیم په اُر کښې او بیا په حاران کښې اوسیدو. د دی علاقې خلق مُشرکان وو چا به چې د سپوږمۍ عبادت کولو. خدائ پاک ابراهیم ته ووئیل چې دا ځائ پریږده او د کنعان وطن ته لاړ شه. هغه د خپلې ښځې سره او د ورارهٔ حضرت لوط سره او د کور ټولو څیزونو سره کنعان ته لاړل.

## ۲. د خدائ پاک لوظ یا وعدی د حضرت ابراهیم سره

- د زمکې وعده. پیدایښت ۱۲ : ۷
- د خلقو یا د قوم په حقله وعده: (د دنیا ټولو خلقو ته به هم د دِ قوم په وسیلې برکت ملاویږی). پیدایښت ۱۵ : ۱ - ۲۱

## ۳. اهم واقعی

- حضرت ابراهیم ته د خدائ پاک آواز. پیدایښت ۱۲
- حضرت ابراهیم سره د خدائ پاک لوظ. پیدایښت ۱۲ : ۷
- د حضرت ابراهیم په وسیله د حضرت لوط آزادی (رهائی). پیدایښت ۱۴
- حضرت ابراهیم سره د خدائ پاک دویم لوظ. پیدایښت ۱۵
- د حضرت اسماعیل پیدا کیدل. پیدایښت ۱٦
- د سُدوم او عموره تباهی. پیدایښت ۱۸ او ۱۹
- د حضرت اضحاق پیدا کیدل. پیدایښت ۲۱
- د حضرت اضحاق پیش کیدل. پیدایښت ۲۲
- د حضرت ابراهیم مرګ. پیدایښت ۲۵: ۱ - ۱۱

## ۴. حضرت ابراهیم چرته خپل ایمان څرګند کړے وو

- د حاران په پریښودلو کښې یی د خدائ پاک فرمانبرداری وکړه. پیدایښت ۱۲ : ۱
- د زوئ، زمکی او د قوم په حقله هغۀ د خدائ پاک په لوظونو یقین کولو. پیدایښت ۱۵ : ۴ - ۸
- د حضرت اضحاق په قربانی کولو کښې د خدائ حکم منل. پیدایښت ۲۲: ۱ - ۱۴
- د حضرت اضحاق وادۀ. پیدایښت ۲۴ : ۷

## ۵. ناکامی/کمزوری

- چې کله هغه مصر ته تلو نو په خدائ پاک باندی یی بهروسه نۀ کوله چې خیال به یی ساتی. پیدایښت ۱۲ : ۱۰
- په مصر کښې د هغۀ د ښځی بی بی ساره سره دوکه. پیدایښت ۱۲؛ دوباره ابی مِلِک سره. پیدایښت ۲۰
- د حضرت اسماعیل پلارتوب. پیدایښت ۱۶

## ۶. مثالونو پسی تلل

- صبر
- د خدائ پاک په لوظونو یقین کول
- تابعداری
- خپلی مرضئ سره خپل کور پریښودلو ته تیار اوسیدل او هر ځائ ته مو چې خدائ پاک بوتلل غواړی هلته تلل.



# خبری اتری

د خبرو کولو د پاره موضوع گانی

۱. د حضرت ابراهیم د ژوندون په حقله خبری اوکړئ.

۲. حضرت ابراهیم ولی صادق جوړ کړے شوے وو؟

۳. حضرت ابراهیم ته وئیلے شوی وو چی خپل کور او کورنئ پریږدی او په خدائ پاک پسی ځی. آیا دا یو مشکل کار کول وو کۀ نه؟

۴. آیا حضرت ابراهیم خوااوشا قومونو ته تبلیغ کولو؟

۵. کۀ خدائ پاک تاسو ته ووایی چی هر څۀ پریږدئ نو تاسو به یی پریږدئ؟

۶. ایمان څۀ ته وائی؟ تاسو د خپل ایمان په حقله یو مثال ورکړئ چی تاسو د ایمان استعمال څنگه کړے دے؟

۷. خدائ پاک حضرت ابراهیم له برکت ورکړے وو، هغه تاسو له څنگه برکت درکولے شی؟

**د راتلونکی هفتی د پاره د هجرت سیپاره اول نه شلم باب پوری تلاوت وکړئ.**



# په یاده یاد کړئ

۱. د بائبل مقدس نه د اولنئ هفتی آیت ووایه: اول کورنتیان ۱۵ : ۲۲

۲. د دویمی هفتی د بائبل مقدس آیت:

" حضرت ابراهیم په مالِک خدائی یقین وکړو، نو په دِ وجه مالِک خدائی د هغۀ نه رضا شو او هغه یی قبُول کړو" پیدایښت ۱۵ : ٦

# دریمه هفته : هجرت



## بیا کتل

د تیری هفتی سبق ته بیا کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | |
|  | | حضرت موسیٰ |
|  | | حضرت یشوع |
|  | | حضرت جدعون |
|  | | حضرت داؤد |
|  | | حضرت دانی ایل |
|  | | حضرت نحمیاه |
|  | | (بیا کتل) |
|  | | حضرت عیسیٰ |
|  | | پطروس رسول |
|  | | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چی په خپلو کښی تړون لری.

۲. په زړه لوظ نامه کښی د دریو تقسیم شوؤ برخو نومونه واخله.

۳. د تورات شریف د پینځو سیپارو نومونه واخله.

۴. د حضرت ابراهیم د ژوندون په حقله یو څو اهم خبری بیان کړه.

## زده کړه

په زړه لوظ نامه کښی د تقسیم د نومونو او د سیپارو د نومونو مطالعه جاری ساتئ.

## په زړه لوظ نامه کښې تقسیم او د سیپارو نومونه

| تاریخی ۱۷ سیپاری | | شاعری (۵ سیپاری) | پیشن گوئی ۱۷سیپاری | |
|---|---|---|---|---|
| پیدایښت | | ایوب | یسعیاه | |
| هجرت | | زبور | یرمیاه | |
| احبار | تورات | امثال | نوحه | لوئ پیغمبران |
| گنتی، شمیر | | واعظ | حزقی ایل | |
| استثنا | | غزلُ الغزلات | دانی ایل | |
| یشوع | | | هوسیع | |
| قضاة قاضیان | | | یوایل | |
| روت | | | عاموس | |
| ۱-سموئیل | | | عبدیاه | |
| ۲-سموئیل | | | یوناه | |
| ۱-سلاطین بادشاهان | تاریخی | | میکاه | په رُتبه کښې د نورو |
| ۲-سلاطین بادشاهان | سیپاری | | ناحوم | نه لږ وارۀ پیغمبران |
| ۱-تواریخ | | | حبقوق | |
| ۲-تواریخ | | | صفنیاه | |
| عزرا | | | حجی | |
| نحمیاه | | | زکریاه | |
| آستر | | | ملاکی | |

# هجرت



**تاریخ** : د عیسیٰ مسیح نه تقریباً ۱۵۰۰ کاله مخکښې.

**اهم واقعی** : حضرت موسیٰ بنی اسرائیل په مصر کښې د غلامئ نهٔ آزادوی. خدائ پاک د حضرت موسیٰ په وسیله باندی بنی اسرائیلو له خپل شریعت ورکوی. خدائ پاک هغه خلقو له د نافرمانئ سزا ورکوئ. خدائ پاک د خیمی د جوړولو ښودنه کوی چی بنی اسرائیل پکښې د هغهٔ عبادت وکړی.

**لنډه دا چی** : ۱. د حضرت موسیٰ وړومبنے ژوند او غوره کیدل. ۲. خدائ پاک حضرت موسیٰ په وسیله د ډیرو معجزو په ذریعه د اسرائیلیانو قوم د مصر نه راوویستو. ۳. خدائ پاک بنی اسرائیلو له خپل شریعت ورکوی. ۴. د خیمی جوړول.



## تلاوت

دریم شخصیت چی مونږ به یی مطالعه کوو حضرت موسیٰ دے. مونږ به ګورو چی حضرت موسیٰ یو ډیر اهم پیغمبر وو نهٔ صرف د دِ په وجه چی هغهٔ عظیم کارونه او معجزی کړی وی بلکه خدائ پاک د هغهٔ په وسیله باندی دنیا له خپل شریعت ورکړے وو ځکه چی حضرت موسیٰ د خپلو خلقو او خدائ پاک یو ډیر عاجز خادم وو.

د هجرت د سیپاری اول نه څلورم باب پوری او ورسره د څوارلسم او شلم باب هم تلاوت وکړئ.

## حضرت موسیٰ "راویستل شوے" یا "د اوبو ځوئ"

### ۱. پس منظر

حضرت موسیٰ د عبرانیانو والدینو نه پیدا شو په هغه دوران کښې کله چې د مصر بادشاه بنی اسرائیل غلامان جوړ کړی وو. د حضرت موسیٰ د پیدا کیدلو په وخت کښې یو حکم جاری شوے وو چې د عبرانیانو کوم هلکان زیږیدلے کیږی هغه ټول به وژلے شی. حضرت موسیٰ تر دریو میاشتو پورې خپل مور پلار په حفاظت کښې وساتلو او د هغهٔ پالنه یې وکړه خو زر هغوی له هغه ماشوم د ځان نه لرې کول ضروری وو. هغوی هغه په یوی ټوکرئ کښې واچولو او په دریاب کښې یې پریښودو. هغه یوی مصری شهزادګئ ته ملاو شو او د هغهٔ خیال یې ساتلو. حضرت موسیٰ د یو مصری شهزاده په شان لوئ شو خو هیڅ کله یې هیر نهٔ کړل چې هغه یو عبرانے وو. حضرت موسیٰ په خپل ژوند کښې یو شهزاده، شپونکے، پیغمبر او د بنی اسرائیلو رهنما وو.

### ۲. اهم واقعې

- حضرت موسیٰ د یو مصری سپاهی د قتلولو نه پس زر د مصر نه تښتی. هجرت. ۲ : ۱۱ - ۱۵
- د بنی اسرائیلو آزادولو د پاره خدائ پاک حضرت موسیٰ غوره کوی. هجرت ۳ - ۴
- حضرت موسیٰ مصر ته واپس راځی او مصر باندی د لسو آفتونو سبب جوړیږی.
- هجرت ۷ : ۱۴ - ۱۲ : ۳٦
- حضرت موسیٰ خلق د مصر نه بهر راوباسی او د بحرقلزم نه تیریږی. هجرت. ۱۲ - ۱۴
- خدائ پاک حضرت موسیٰ له لس حکمونه، د خیمی د جوړلو ښودنه، د قربانیانو او مذهبی مراسمو لارښودنه وکړله. هجرت. ۲۰ - ۳۱

- د بنی اسرائیلو د یقین نۀ کولو نه پس په بیابان کښې سرګردانه ګرځیدل. شمیر او استثنا.
- حضرت موسیٰ د لوظ زمکه ګوری او بیا ترینه خدائ پاک روح اخلی. استثنا ۳۴

## ۳. حضرت موسیٰ خپل ایمان څرته څرګند کړے د ے

- هغۀ د فرعون د لور د ځوئ بللو نه انکار وکړو. عبرانیان ۱۱ : ۲۴
- هغۀ مصر پریښودو، " نالیدلے یی ولیدو" عبرانیان ۱۱ : ۲۷
- هغۀ به په خدائ باندی یقین ساتلو تر دِ پوری چی کۀ هغه به ناممکن څیزونو ته هم مخامخ کیدو.
- هغۀ بنی اسرائیل د بحرقلزم نه تیر کړل. عبرانیان ۱۱ : ۲۹

## ۴. ناکامی/کمزوری

- یو مصرے وژل (دا د خدائ پاک اراده نۀ وه). هجرت ۲ : ۱۲
- خبرو کولو نه انکار. هجرت ۴ : ۱۰ - ۱۷
- کاڼی له ګزار ورکولو کښې یی نافرمانی وکړه. شمیر ۲۰: ۸ - ۱۳

## ۵. مثالونو پسی تلل

- حضرت موسیٰ د بنی اسرائیلو د پاره ډیر زړۀ سواندے وو. هجرت ۳۲ : ۷ - ۱۴ . هغه یو ډیر پرهیزګاره سړے وو او په خپل عمر کښې یی د هر قسمه سختو حالاتو مقابله په زړۀ ورتیا سره کړی وه.
- هغۀ په خدائ پاک یقین کولو د فرعون او د بنی اسرائیلو د طرفه په هغه سخت مخالفت کښې هم هغه فرمانبردار وو.
- حضرت موسیٰ د بنی اسرائیلو د پاره هوښیار او خیال ساتونکے شپون وو. هجرت ۳۲



## خبری اتری

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانی

۱. د حضرت موسیٰ د ژوندون په حقله خبری وکړه.

۲. د حضرت موسیٰ په سیند کښی پریښودل او د فرعون په محل کښی لوئیدل اتفاقاً شوی وو کهٔ دا د خدائ پاک اراده وه؟

۳. په څهٔ وجه خدائ پاک تاسو د ګناه نه آزاد کړی یئ او د خپلو بچو په شان یی قبول کړی یئ؟

۴. حضرت موسیٰ یو خراب حالت په خپل اختیار کښی واخستو او دا یی د یو مصری قتلولو په وجه نور هم خراب کړو. آیا کله تاسو څهٔ په خپل اختیار کښی اخلئ؟ کله چی تاسو دا اختیار اخستے وو نو بیا څهٔ چل وشو؟

۵. تیتوالے کمزوری ده کهٔ مضبوطیه؟

**راتلونکی هفتی د پاره د یشوع سیپاری تلاوت وکړئ.**



## په یاده یاد کړئ

۱. د اولنئ هفتی او د دویمی هفتی د مقدس بائبل آیتونه ووایئ: اول کورنتیان ۱۵ : ۲۲ او پیدایښت ۱۵ : ۶ .

۲. د دریمی هفتی د پاره د بائبل مقدس آیت:

"د ایمان په سبب چی موسیٰ لوئ شو نو د فرعون د لُور د زوی بللو نه یی انکار وکړو. ځکه چی هغۀ د ګناه د ژوندون د یو څو ورځو د خوند آخستو په نسبت د خدائ د اُمت سره د بدسلوک زغمل زیات خوښ کړل." عبرانیان ۱۱ : ۲۴ - ۲۵.



# څلورمه هفته : برې



## بیا کتل

د تیری هفتی سبق ته بیا کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | حضرت یشوع |
|  | | حضرت جدعون |
|  | | حضرت داؤد |
|  | | حضرت دانی ایل |
|  | | حضرت نحمیاه |
|  | | (بیا کتل) |
|  | | حضرت عیسیٰ |
|  | | پطروس رسول |
|  | | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چی په خپلو کښی تړون لری.

۲. د هغه دوو تقسیمونو نومونه واخله چی په زړه لوظ نامه کښی د تاریخی سیپارو لاندی راځی.

۳. د تورات د پینځو سیپارو نومونه واخله.

۴. د حضرت موسیٰ د ژوندون په حقله یو څو اهم خبری بیان کړه.

## زده کړه

په زړه لوظ نامه کښی د تقسیم د نومونو او د سیپارو د نومونو مطالعه جاری ساتئ.

## په زړه لوظ نامه کښې تقسیم او د سیپارو نومونه

**تاریخی ۱۷ سیپاری**

تورات:
- پیدایښت
- هجرت
- احبار
- گنتی، شمیر
- استثنا

تاریخی سیپاری:
- یشوع
- قضاة  قاضیان
- روت
- ۱-سموئیل
- ۲-سموئیل
- ۱-سلاطین بادشاهان
- ۲-سلاطین بادشاهان
- ۱-تواریخ
- ۲-تواریخ
- عزرا
- نحمیاه
- آستر

**شاعری (۵ سیپاری)**

- ایوب
- زبور
- امثال
- واعظ
- غزلُ الغزلات

**پیشن گوئی ۱۷سیپاری**

لوئ پیغمبران:
- یسعیاه
- یرمیاه
- نوحه
- حزقی ایل
- دانی ایل

په رُتبه کښې د نورو نه لږ واړۀ پیغمبران:
- هوسیع
- یوایل
- عاموس
- عبدیاه
- یوناه
- میکاه
- ناحوم
- حبقوق
- صفنیاه
- حجی
- زکریاه
- ملاکی



## برے

**تاریخ** : د عیسیٰ مسیح نه تقریباً ۱۴۵۰ کاله مخکښې.

**اهم واقعې** : د حضرت موسیٰ د وفات نه پس حضرت یشوع مشر شو. د خدائ پاک د هدایاتو په مطابق هغۀ د کنعان فتح کول شروع کړل، هغه زمکه چې خدائ پاک يې حضرت ابراهيم او د هغۀ اولاد ته د ورکولو لوظ کړے وو.

**لنډه دا چې** : ۱. حضرت یشوع سره د خدائ پاک لوظ. ۲. د اُردن د سيند د جدا کيدلو او د هغې نه د کنعان طرفته د آوړيدلو معجزه. ۳. د کنعان د وطن اخستلو د پاره لښکر تيارول. ۴. د بنی اسرائيلو د قبيلو تر مينځه د زمکې تقسيم. ۵. د بنی اسرائيلو قوم سره د حضرت یشوع آخری خبرې او مرګ.



## تلاوت

څلورم شخصيت د حضرت یشوع دے چې مونږ به يې مطالعه کوو. حضرت یشوع يو ډير عظيم ايماندار سړے وو. خدائ پاک هغه د هغۀ د قابيليت او خدمتګارئ په وجه غوره کړے وو.

د یشوع سيپارې ۱ او ۲۴ بابونو تلاوت وکړئ.

**یشوع** "يهوه خلاصون دے"

### ۱. پس منظر

حضرت موسیٰ خدائ پاک واخستو، او حضرت یشوع ته ذمه وارې او مشرې ورکړے شوه چې د بنی اسرائيلو قوم وعده کړے شوې وطن ته بوځي. بنی اسرائيل ډيرو

بادشاهانو او د هغوی فوجونو سره مخامخ شول (وجنګیدل) څوک چې د هغوی نه زیات طاقتور وو او په شمیر کښې هم زیات وو.

## ۲. اهم واقعې

- هغۀ بندوبست وکړو او جنګ کښې یې د بنی اسرائیلو رهنمائی وکړه. هجرت ۱۷
- د حضرت موسیٰ د پاره یې د هغه زمکې جاسوسی کړې وه. شمیر ۱۳ - ۱۴
- د حضرت موسیٰ د کامیابولو د پاره مقرر شوے وو. شمیر ۲۷
- هغۀ د اردن نه پورې وتلو کښې د بنی اسرائیلو رهنمائی وکړه. یشوع ۴
- حمله یې وکړه او د یریحو ښار یې قبضه کړو. یشوع ٦
- بنی اسرائیلو ته یې د خدائې پاک د تابعدارئ کولو حکم کولو. یشوع ۲۳ - ۲۴

## ۳. حضرت یشوع خپل ایمان څرنګه څرګند کړے وو

- په دِ یقین ساتل چې خدائ پاک به هغوی له زمکه (وطن) ورکوی. شمیر ۱۳ - ۱۴، یشوع ۱
- د یریحو په قلعه باندې حمله. یشوع ٦

## ۴. ناکامی/کمزوری

- د خدائ پاک سره د جبعونیانو په حقله په مشوره کولو کښې هغه ناکامه شو. یشوع ۹ : ۱۴

## ۵. مثالونو پسې تلل

حضرت یشوع د حضرت موسیٰ د اختیار د لاندې کار کولو. د ایمان او د تابعدارئ په وجه هغه یو رهنما جوړ شو. حضرت یشوع مونږ ته داسې څرګندیږي:

- يو عاجز خادم
- يو خدائی رهنما
- صابر
- په ناممکن باندی ايمان
- په ناممکنو کښی هم د خدائ پاک تابعداری.



## خبری اتری

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانی

١. د حضرت يشوع په ژوند باندی خبری وکړئ.

٢. حضرت يشوع عتو فوجونو او مضبوطو بادشاهانو ته مخامخ شو خو بيا يی هم په خدائ پاک باندی بهروسه ساتله. هغه کوم داسی ناممکن حالت دے ستا په ژوند کښی چی تا له پری په خدائ پاک باندی بهروسه ساتل پکار دی؟

٣. چی په بنی اسرائيلو کښی څۀ خلقو د خدائ پاک ونۀ منل نو څۀ چل وشو؟ چی خدائ پاک مونږ ته څۀ وائی هغه هر څۀ منل مونږ له ولی مهم دی؟

٤. په اول باب کښی هغه کومی وعدی دی چی خدائ پاک حضرت يشوع سره وکړی او ستاسو د پاره د دِ څۀ مقصد دے؟

**د راتلونکی هفتی د پاره د قاضيانو سيپاری تلاوت وکړئ.**

# په ياده ياد کړئ

۱. د بائبل مقدس نه د دويمې او دريمې هفتې آياتونه ولوله. پيدايښت ۱۵: ۶ او عبرانيان ۱۱ : ۲۴ - ۲۵

۲. د څلورمې هفتې د بائبل مقدس آيت:

" ولې ما تا له حکم نۀ دے درکړے؟ نو مضبوط شه او حوصله وساته! يريږه مه او بې زړۀ کيږه مه، ولې چې مالک خدائ ستا خدائ پاک هم تا سره دے هر چرته چې تۀ ځې." يشوع ۱ : ۹

# پینځمه هفته : قاضیان



## بیا کتل

د تیری شوی هفتی سبق دوباره کتل.

| | |
|---|---|
|  | |
|  | |
|  | |
|  | |
|  | حضرت جدعون |
|  | حضرت داؤد |
|  | حضرت دانی ایل |
|  | حضرت نحمیاه |
|  | (بیا کتل) |
|  | حضرت عیسیٰ |
|  | پطروس رسول |
|  | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چې په خپلو کښې تړون لری.

۲. د هغه دوو تقسیمونو نومونه واخله چې په زړه لوظ نامه کښې د تاریخی سیپارو لاندی راځی.

۳. د تورات شریف د پینځو سیپارو نومونه واخله.

۴. د حضرت یشوع د ژوند په حقله یو څو خبری بیان کړئ.

## زده کړه

په زړه لوظ نامه کښې د تقسیم د نومونو او د سیپارو د نومونو مطالعه جاری ساتئ.



## په زړه لوظ نامه کښې تقسیم او د سیپارو نومونه

### تاریخی ۱۷ سیپاری

تورات:
- پیدایښت
- هجرت
- احبار
- ګنتي، شمیر
- استثنا

تاریخی سیپاری:
- یشوع
- قضاة  قاضیان
- روت
- ۱-سموئیل
- ۲-سموئیل
- ۱-سلاطین بادشاهان
- ۲-سلاطین بادشاهان
- ۱-تواریخ
- ۲-تواریخ
- عزرا
- نحمیاه
- آستر

### شاعری (۵ سیپاری)

- ایوب
- زبور
- امثال
- واعظ
- غزلُ الغزلات

### پیشن ګوئی ۱۷سیپاری

لوئ پیغمبران:
- یسعیاه
- یرمیاه
- نوحه
- حزقی ایل
- دانی ایل

په رُتبه کښې د نورو نه لږ وارۀ پیغمبران:
- هوسیع
- یوایل
- عاموس
- عبدیاه
- یوناه
- میکاه
- ناحوم
- حبقوق
- صفنیاه
- حجی
- زکریاه
- ملاکی

## قاضيان



**تاريخ** : د عيسیٰ مسيح نه تقريباً ۱۴۰۰ نه ۱۰۰۰ کاله مخکښې.

**اهم واقعې** : د حضرت يشوع د وفات نه پس په کنعان کښې څۀ قاضيانو د بنی اسرائيلو د قوم رهنمائی کړې وه. بنی اسرائيل په ګناه کښې راګير شول او ګير چاپيره مشرکانو بادشاهانو پرې حملې وکړې. خدائ پاک يو قاضی راوليږلو چې هغوی د ګناه او د هغوی د ظلم نه خلاص کړی. په دغه دوران کښې دولسو مختلفو قاضيانو حکومت وکړو. سمسون په دغه ټولو قاضيانو کښې ډير مشهور وو.

**لنډه دا چې** : ۱. د حضرت يشوع د وفات نه پس بنی اسرائيل په ګناه کښې راګير شول. ۲. بهرنو قومونو پرې حملې وکړې خو قاضيانو خلق بچ کړل. ۳. سمسون د يو قاضی په حيثيت او د هغۀ ناکامی. ۴. د بنی اسرائيلو واپس نافرمانه کيدل - "خلقو هغه څۀ کول څۀ چې هغوی ته ښۀ ښکاريدل."



## تلاوت

پينځم شخصيت حضرت جدعون دے چې مونږ به يې مطالعه کوو. خدائ پاک هغه غوره کړے وو چې دا قوم د غيرملکی مشرک بادشاه د ظلم نه او د بُت پرستئ نه رابهر کړی.

د قاضيانو د سيپاری ٦ - ۹ باب پوری تلاوت وکړئ

**جدعون** "جنګيالے"

## ۱. پس منظر

حضرت جدعون د منسی د قبیلی نه وو. هغه د اعلٰی خاندان نه نۀ وو بلکه یو زمیدار وو. حضرت جدعون په حقیقت کښی یو عاجز سړے وو. خدائ پاک هغه غوره کړے وو چی د بنی اسرائیلو خلق د مِدیانیانو نه آزاد کړی. هغه د لښکر یو عظیم رهنما جوړ شو او مِدیانیانو ته یی ماتے ورکړو. قاضیان، ٦ - ٨

## ۲. اهم واقعی

- د خدائ پاک فرښتی حضرت جدعون ته ووئیل چی د مِدیانیانو خلاف د خلقو رهنمائی وکړه. قاضیان ٦ : ١۴
- حضرت جدعون د دریو سوو فوځیانو رهنمائی کوی چی مِدیانیانو له ماتے ورکړی. قاضیان ٧
- حضرت جدعون د بادشاه جوړیدلو نه انکار کوی. قاضیان ٨ : ٢٣

## ۳. حضرت جدعون چرته خپل ایمان څرګند کړے وو

- د خدائ پاک تابعداری یی وکړه او په خپل کلی کښی یی د مشرکانو بُتان تباه کړل. قاضیان ٦: ٢۵ - ٣٢
- د دشمن د غټ شمیر لښکر خلاف یی د دریو سوو فوځیانو د لښکر رهنمائی وکړه. قاضیان ٧
- د بادشاه جوړیدلو نه یی انکار وکړو هغۀ دا وئیل چی صرف هم خدائ پاک بادشاه دے. قاضیان ٨ : ٢٣

## ۴. ناکامی/کمزوری

- بیا یی د خدائ پاک ازمیښت وکړو او نخښی یی غوښتی. قاضیان ٦ : ١٧
- د جنګ لوټ شوے مال یی واخستو او د سروزرو یو څیز یی تری جوړ کړو او دا بیا د عبادت مرکز وګرځیدو. قاضیان ٨ : ٢۴ - ٢٧

## ۵. مثالونو پسی تلل

- خدائ پاک یو غریب او عاجز سړے غوره کړو چی د هغۀ د لښکر رهنمائی وکړی.
- هغۀ په خدائ پاک باندی یقین وساتلو کله چی هغۀ ته ښکاریدل چی جنګ ګټل ناممکن دی.
- تیښ والے، او د ازمیښت په وخت کښی غالب راتلل.



## خبری اتری

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانی

١. د حضرت جدعون د ژوند په حقله خبری وکړئ.

٢. حضرت جدعون صرف یو کس وو په خپله معاشره کښی چا به چی د خدائ پاک آوریدل او بُتان به یی تباه کول. ستاسو څۀ خیال دے چی د هغۀ د پاره دا کول مشکل وو؟ آیا دا به ستاسو د پاره مشکل وی چی د خدائ حکمونه ومنئ کله چی د معاشری خلق ستاسو سره متفق نۀ وی؟

٣. ولی خدائ پاک حضرت جدعون د یو وړوکی ټولګی فوځیانو سره ولیږلو چی دشمنانو له ماتے ورکړی؟ آیا ستا په ژوندون کښی داسی څۀ وختونه راغلی دی

چی خدائ پاک تا ته وئیلی وی چی د دِ نه هم څۀ سخت کار وکړه چی تا سره یی څۀ طاقت یا پوهه نۀ وه؟

۴. آیا تۀ چی یو رهنما جوړ شی نو بیا هم عاجز پاتی کیدے شی؟

**د راتلونکی هفتی دپار د اول او دویم سموئیل سیپارو تلاوت وکړئ.**



## په یاده یاد کړئ

۱. د بائبل مقدس د دریمی او څلورمی هفتی آیاتونه ووایئ. عبرانیان ۱۱: ۲۴ - ۲۵ او یشوع ۱ : ۹

۲. د بائبل مقدس نه د پینځمی هفتی آیت:

"نۀ به زۀ په تاسو حکومت کوم او نۀ زما زوئ. بلکه خدائ پاک به په تاسو باندی حکومت کوی." قاضیان ۸ : ۲۳



# شپږمه هفته : بادشاهی



## بیا کتل

د تیری هفتی سبق ته بیا کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | حضرت داؤد |
|  | | حضرت دانی ایل |
|  | | حضرت نحمیاه |
|  | | (بیا کتل) |
|  | | حضرت عیسیٰ |
|  | | پطروس رسول |
|  | | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چې په خپلو کښې تړون لری.

۲. د دوو تقسیمونو نومونه واخله چې په زړه لوظ نامه کښې د تاریخی سیپارو په فهرست کښې راځی.

۳. د هغه ټولو اوولسو سیپارو نومونه واخله چې د تاریخی سیپارو فهرست لاندی راځی.

۴. د حضرت جدعون د ژوند په حقله یو ځو خبری اوکړئ.



## زده کړه

په زړه لوظ نامه کښې د تقسیم د نومونو او د سیپارو د نومونو مطالعه جاری ساتئ.



## په زړه لوظ نامه کښې تقسيم او د سيپارو نومونه

**تاريخي ۱۷ سيپارې**

تورات:
- پيدايښت
- هجرت
- احبار
- ګنتي، شمير
- استثنا

تاريخي سيپارې:
- يشوع
- قضاة قاضيان
- روت
- ۱-سموئيل
- ۲-سموئيل
- ۱-سلاطين بادشاهان
- ۲-سلاطين بادشاهان
- ۱-تواريخ
- ۲-تواريخ
- عزرا
- نحمياه
- آستر

**شاعرې (۵ سيپارې)**

- ايوب
- زبور
- امثال
- واعظ
- غزلُ الغزلات

**پيشن ګوئي ۱۷سيپارې**

لوئ پيغمبران:
- يسعياه
- يرمياه
- نوحه
- حزقي ايل
- داني ايل

په رُتبه کښې د نورو نه لږ وارۀ پيغمبران:
- هوسيع
- يوايل
- عاموس
- عبدياه
- يوناه
- ميکاه
- ناحوم
- حبقوق
- صفنياه
- حجي
- زکرياه
- ملاکي



## بادشاهی

**تاریخ** : د عیسیٰ مسیح نه تقریباً ۱۰۵۰ نه ۶۰۰ کاله مخکښې.

**اهم واقعې** : حضرت ساؤل د بنی اسرائیلو اولنے بادشاه جوړ شو. د حضرت ساؤل د خدائ پاک په نافرمانئ کښې د ناکامئ نه پس خدائ پاک حضرت داؤد د یو بادشاه په حیثیت غوره کړو. د حضرت داؤد زوی حضرت سلیمان بادشاه وو خو د حضرت سلیمان د مرګ نه پس بادشاهی په یهوداه او اسرائیلو کښې تقسیم شوه چې ښۀ او خرابو بادشاهانو یې رهنمائی کوله.

**لنډه دا چې** : ۱. یو بادشاه د بنی اسرائیلو رهنمائی وکړه. ۲. آخر حضرت داؤد یوه بادشاهی جوړه کړه نو امن شو. ۳. حضرت سلیمان د خدائ پاک د پاره یوه عبادت خانه جوړه کړه. ۴. بادشاهی تقسیم شوه او جنګونه شروع شول. ۵. د نافرمانئ په وجه دواړه قومونه وغورزیدل.



## تلاوت

شپږم شخصیت د حضرت داؤد دے چې مونږ به یې مطالعه کوو. خدائ پاک هغه غوره کړے وو چې یو لوئ پیغمبر او د بنی اسرائیلو بادشاه به وی. هغۀ د بنی اسرائیلو ټولو دشمنانو له ماتے ورکړے وو او په وطن کښې یې امن راوستے وو.

**داؤد** "محبوب" يا "مشر (د يو اُمت يا د يوی ډلی). "

## ۱. پس منظر

حضرت داؤد د يهوده د قبيلی نه وو. د هغهٔ پلار جيسيا زوئ د عبيد زوئ د بوعز وو. حضرت داؤد يو حمدويونکے، شاعر، شپونکے، سپاهی او يو بادشاه وو. هغه د بنی اسرائيلو د اول بادشاه حضرت ساؤل په زمانه کښې د هغهٔ په بادشاهئ کښې اوسيدو. حضرت داؤد د عيسیٰ مسيح نه ۱۰۳۰ - ۹٦۵ کاله مخکښې ژوند تير کړے وو.

## ۲. اهم واقعی

- حضرت داؤد خدائ پاک غوره کړے او مسح کړے وو. اول سموئيل ١٦ : ١ - ٣
- حضرت داؤد فِلستی له ماتے ورکړو. اول سموئيل ١٧
- حضرت ساؤل حضرت داؤد رد کړو. اول سموئيل ١٩ - ٢٦
- حضرت داؤد د بنی اسرائيلو بادشاه جوړيږی. دويم سموئيل ١ : ١ - ٢ : ٧
- حضرت داؤد زنا او قتل کوی. دويم سموئيل ١١ - ١٣
- ابی‌سلوم خپل پلار حضرت داؤد لری کړے وو. دويم سموئيل ۱۴ - ١٨

## ۳. حضرت داؤد چرته خپل ايمان ښرګند کړے وو

- فِلستی له شکست. اول سموئيل ١٧
- حضرت داؤد سره موقع وه چی حضرت ساؤل مړ کړی خو مړ يی نهٔ کړو. اول سموئيل ۲۴، ٢٦
- توبه ګار شو چی کله يی ګناه وکړه. دويم سموئيل ١٢ : ١٣ ، زبور ۵١

## ۴. ناکامی/کمزوری

- ډيری وادهٔ کړی او ناوادهٔ کړی ښځی يی وی.

- زنا او قتل
- په خپلې کورنۍ کښې غريب رهنما. دويم سموئيل ۱۳ - ۱۴
- د خلقو په مردم شمارۍ کښې يې د خدائ پاک نافرمانی وکړه. دويم سموئيل ۲۴

## ۵. مثالونو پسې تلل

- حضرت داؤد داسې يو سړے وو چې د خدائ پاک زړۀ ته نزدې وو.
- د هغۀ داسې ايمان وو چې په سختو وختونو کښې غالب راشی.
- هغه يو ډېر عظيم رهنما وو چې د خدائ پاک خلق يې متفق کړل او يو طاقتور قوم ترې جوړ شو.
- حضرت داؤد يو عظيم سړے وو او په خدائ پاک باندې يې کلک ايمان لرلو خو بيا هم ډېرې غلطيانې يې کړې وې. د خدائ پاک سره د هغۀ لوئی والے د هغۀ په رويه کښې وو: کله چې هغه بريالے شو نو هغۀ د خدائ پاک نوم ته جلال ورکړو، او کله چې هغه ناکام شو نو هغۀ به توبه وويسته او خدائ پاک نه به يې د معافۍ د پاره دعا وغوښته.

## خبرې اترې

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانې

۱. د حضرت داؤد د ژوند په حقله خبرې وکړئ.

۲. حضرت داؤد په خپلو ورونو کښې د ټولو نه کشر او وړوکے وو، ولې خدائ پاک هغه غوره کړو؟

۳. حضرت داؤد هغه غټ سړی له ماتې ورکړو څوک چې د خدائ پاک او د هغهٔ د خلقو دشمن وو. د هغه غټ سړی په شان غټ څیزونه زمونږ په ژوند کښې ډیر څهٔ کیدے شی. ستاسو په ژوند کښې هغه غټ څیزونه کوم دی چې خدائ پاک ستاسو مدد کولے شی چې هغې له ماتې ورکړی؟

۴. مونږ ته پته ولګیده چې حضرت داؤد کامل انسان نهٔ وو، خو بیا هم خدائ پاک هغه استعمال کړو. ولې؟

۵. د یو ښهٔ رهنما خوبئ څهٔ څهٔ دی؟

**د راتلونکی هفتی د پاره د دانی‌ایل سیپاری تلاوت وکړئ**



## په یاده یاد کړئ

۱. د بائبل مقدس نه د څلورمی او پینځمی هفتی آیتونه ووایئ. یشوع ۱ : ۹ او قاضیان ۸ : ۲۳

۲. د شپږمی هفتی د بائبل مقدس آیت:

"زما د خلې کلام او زما د زړهٔ خیال دِ ستا په نظر کښې قبول وګرځی، اے مالکه تهٔ زما تیګه او زما شفاعت کونکے یی." زبور ۱۹ : ۱۴



# اووه هفته : شړل



## بیا کتل

د تیری هفتی سبق ته بیا کتل.

| | |
|---|---|
|  | |
|  | |
|  | |
|  | |
|  | |
|  | |
|  | حضرت دانی ایل |
|  | حضرت نحمیاه |
|  | (بیا کتل) |
|  | حضرت عیسیٰ |
|  | پطروس رسول |
|  | پولوس رسول |

د دولسو هفتو د پاره بائبل مقدس ته د کتلو

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چې په خپلو کښې ترون لری.

۲. په زړه لوظ نامه کښې د غټو دریو تقسیم شوؤ برخو نه د دوؤ برخو نومونه واخله.

۳. د هغه ټولو اوولسو سیپارو نومونه واخله چې د تاریخی سیپارو فهرست لاندی راځی او پینځهٔ چې د شاعرئ د سیپارو د فهرست لاندی راځی.

۴. د حضرت داؤد د ژوند د یو څو اهم حالاتو په حقله خبری اوکړئ او دا چې د هغهٔ د ژوند نه به څهٔ زده کړه وکړے شی.



## زده کړه

په زړه لوظ نامه کښې د تقسیم د نومونو او د سیپارو د نومونو مطالعه جاری ساتئ.



## په زړه لوظ نامه کښې تقسیم او د سیپارو نومونه

تاریخی ۱۷ سیپاری

تورات:
- پیدایښت
- هجرت
- احبار
- ګنتی، شمیر
- استثنا

تاریخی سیپاری:
- یشوع
- قضاة قاضیان
- روت
- ۱-سموئیل
- ۲-سموئیل
- ۱-سلاطین بادشاهان
- ۲-سلاطین بادشاهان
- ۱-تواریخ
- ۲-تواریخ
- عزرا
- نحمیاه
- آستر

شاعری (۵ سیپاری)
- ایوب
- زبور
- امثال
- واعظ
- غزلُ الغزلات

پیشن ګوئی ۱۷سیپاری

لوئ پیغمبران:
- یسعیاه
- یرمیاه
- نوحه
- حزقی ایل
- دانی ایل

په رُتبه کښې د نورو نه لږ واړهٔ پیغمبران:
- هوسیع
- یوایل
- عاموس
- عبدیاه
- یوناه
- میکاه
- ناحوم
- حبقوق
- صفنیاه
- حجی
- زکریاه
- ملاکی



## شړل

**تاریخ** : د عیسیٰ مسیح نه تقریباً

۶۰۰ نه ۵۰۰ کاله پورې مخکښې.

**اهم واقعې** : اسور د بنی اسرائیلو شمالی بادشاهئ له ماتے ورکړو او خلق یې وشړلے شول. سل کاله پس د بابل بادشاه په یروشلم قبضه وکړه او وړومبنی شړلے شوی یې بابل ته بوتلل. د یروشلم نه یې دانی ایل او نور ځوانان رهبران بابل ته بوتلل. یروشلم کښې بیا بغاوت جوړ شو او په پوره توګه تباه شو. او بیا د شړلے شوو آخری ډله بوتللے شوه.

**لنډه دا چې** : ۱. دانی ایل او د هغهٔ دوستانو د خدائ پاک قوانین او شریعت قبول کړو او د بابل د بادشاه یې قبول نهٔ کړل. ۲. حضرت دانی ایل د بادشاه د خوب تعبیر کوی. ۳. د حضرت دانی ایل دوستان اور ته وغورزولے شول او د خدائی پاک فرښتی د هغوی حفاظت وکړو. ۴. حضرت دانی ایل د ازمرو غار ته وغورزولے شو او د خدائی پاک فرښتی د هغهٔ حفاظت وکړو. ۵. د حضرت دانی ایل پیشن ګوئی.



## تلاوت

حضرت دانی ایل اووم شخصیت دے چې مونږ به یې مطالعه کوو. په باوجود د دِ کهٔ هغهٔ د خدائ پاک د وطن نه لرې ژوند تیر کړو، خو بیا هم هغه یو زورور پیغمبر وو او خدائ پاک هغه د بابل بادشاه په لویو دربارونو کښې استعمال کړے وو.

# دانی ایل

## ۱. پس منظر

تقریباً په کال ۵۳۵ کښې مخکښې د مسیح نه حضرت دانی ایل او د هغهٔ ملګری بندی کړے شول او د یهوداه نه بابل ته بوتلے شول. په باوجود د دِ چی هغوی بندی وو، هغوی اوچت تعلیم حاصل کړو او د بابلیانو او فارصیانو په حکومتونو کښې یی غټې عُهدی حاصلی کړی. حضرت دانی ایل او نور یهودیانو له په هغه وطن کښې اوسیدل وو چرته چی سخته بت پرستی وه.

## ۲. اهم واقعی

- حضرت دانی ایل د بابل بادشاه نبوکدنضر له بوتلے شو. دانی ایل ۱ : ۱ - ۷
- حضرت دانی ایل د بادشاه نبوکدنضر د خوب تعبیر کوی. دانی ایل ۲
- د حضرت دانی ایل دوستان اور ته واچولے شول. دانی ایل ۳
- حضرت دانی ایل په دیوال باندی د لیکلو ترجمه کوی. دانی ایل ۵
- حضرت دانی ایل د ازمرو غار ته وغورزولے شو. دانی ایل ٦
- د حضرت دانی ایل رویا. دانی ایل ۸

## ۳. حضرت دانی ایل چرته خپل ایمان څرګند کړے وو

- حضرت دانی ایل او د هغهٔ دوستان د خدائ پاک د حکمونو نه شاته نهٔ شول. دانی ایل ۱ : ۸ - ١٦
- حضرت دانی ایل د هغه حکمونو نه انکار وکړو کوم چی د خدائ پاک د حکمونو خلاف وو. دانی‌ایل ٦

## ۴. مثالونو اَو سبقونو پسې تلل

- د حضرت دانی ایل ژوند د وفادارئ یو مثال دے په هغه ځائ کښې چې چرته چې څوک خدائ پاک نۀ پیژنی.
- د حضرت دانی ایل ژوند دا ښودنه کوی چې په داسې معاشره کښې اوسیدے شی او کار کولے شی چرته چې څوک د خدائ پاک تابعداره نۀ وی او څوک چې خدائ پاک نۀ پیژنی، خو بیا هم د خدائ پاک او د هغۀ حکمونو سره فرمانبرداره پاتې کیدے شی.
- حضرت دانی ایل د ایماندارئ د ژوند او د دُعا یو مثال دے.
- خدائ پاک حضرت دانی ایل له د هغۀ د وفادارئ په سبب برکت ورکړے وو.



## خبرې اترې

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانې

۱. د حضرت دانی ایل د ژوند په حقله خبرې وکړئ.

۲. حضرت دانی ایل د خپل کور، کورنئ او وطن نه جدا کړے شو او یو بل مختلف وطن، ثقافت او مذهب ته بوتلے شو. ستاسو څۀ خیال دے چې حضرت دانی ایل دا څنګه محسوسول؟

۳. اګر کۀ هغه یو مختلف ځائ ته بوتلے شو خو بیا هم هغه د خدائ پاک فرمانبردار وو. آیا تاسو کله په داسې حالاتو کښې ګیر شوی یئ چې هر څۀ ستاسو د خیالاتو خلاف وو او تاسو له دا فیصله کول وو چې څۀ کول پکار دی؟ بیان کړئ.

۴. حضرت دانی ایل د خدائ پاک تابعدار وو اګر کۀ د دِ په وجه هغه مړ کیدلے هم شو. آیا تاسو به داسی وکړئ؟

۵. ستاسو څۀ خیال دے چی خدائ پاک ولی حضرت دانی ایل استعمال کړو؟

**راتلونکی هفتی د پاره د نحمیا د سیپاری تلاوت وکړئ.**



## په یاده یاد کړئ

۱. د پینځمی او شپږمی هفتی د بائبل مقدس آیتونه ووایئ. قاضیان ۸ : ۲۳ او زبور ۱۹ : ۱۴

۲. د اوومی هفتی د بائبل مقدس آیت:

"ستا خدائ پاک د چا چی همیشه عبادت کوی به پخپله تا آزاد کړی." دانی ایل ٦ : ١٦ ب



# اتمه هفته : واپسی



## بیا کتل

د تیری شوی هفتی سبق دوباره کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | حضرت نحمیاه |
|  | | (بیا کتل) |
|  | | حضرت عیسیٰ |
|  | | پطروس رسول |
|  | | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چې په خپلو کښې تړون لري.

۲. په زړه لوظ نامه کښې د دریو غټو برخو نومونو واخله.

۳. د هغه ټولو اوولسو سیپارو نومونه واخله چې د تاریخي سیپارو فهرست لاندې راځي او پینځهٔ چې د شاعرئ د سیپارو د فهرست لاندې راځي.

۴. د حضرت داني ایل د ژوند په باره کښې د یو څو څیزونو په حقله خبرې وکړه. او مونږ د هغهٔ د ژوند نه څهٔ اِزده کولے شو.



## زده کړه

په زړه لوظ نامه کښې د تقسیم د نومونو او د سیپارو د نومونو مطالعه جاري ساتئ.



## په زړه لوظ نامه کښی تقسیم او د سیپارو نومونه

د زړی لوظ نامی د تقسیم په آخرنئ برخه کښی د پشن ګویئ سیپاری دی. د پشن ګویئ سیپاری په دوو برخو کښی تقسیم دی: لوئ پیغمبران او په رُتبه کښی د نورو نه لږ واړهٔ پیغمبران. د دِ سرنامو لاندی د سیپارو د نومونو مطالعه وکړئ.

| تاریخی ۱۷ سیپاری | | شاعری (۵ سیپاری) | پیشن ګوئی ۱۷سیپاری | |
|---|---|---|---|---|
| پیدایښت | | ایوب | یسعیاه | |
| هجرت | | زبور | یرمیاه | |
| احبار | تورات | امثال | نوحه | لوئ پیغمبران |
| ګنتی، شمیر | | واعظ | حزقی ایل | |
| استثنا | | غزلُ الغزلات | دانی ایل | |
| یشوع | | | هوسیع | |
| قضاة قاضیان | | | یوایل | |
| روت | | | عاموس | |
| ۱-سموئیل | | | عبدیاه | |
| ۲-سموئیل | | | یوناه | |
| ۱-سلاطین بادشاهان | تاریخی | | میکاه | په رُتبه کښی د نورو |
| ۲-سلاطین بادشاهان | سیپاری | | ناحوم | نه لږ واړهٔ پیغمبران |
| ۱-تواریخ | | | حبقوق | |
| ۲-تواریخ | | | صفنیاه | |
| عزرا | | | حجی | |
| نحمیاه | | | زکریاه | |
| آستر | | | ملاکی | |

دا د هری سیپاری تاریخ دے چی د تاریخی سیپارو په تقسیم کښی راځی. د دِ نقشی د مطالعی په مدد سره به تاسو پوهه شئ چی هر یوه سیپاره د بلی سره څنګه تعلق لری د وخت په مطابقت سره.

احبار استثنا روت ۱ تواریخ ۲ تواریخ آستر

پیدایښت هجرت شمیر یوشوع قاضیان ۱ سموئیل ۲ سموئیل ۱ بادشاهان ۲ بادشاهان عزرا نحمیاه

۲۰۰۰-۲۴۰۰ ۱۵۰۰ ۱۴۵۰ ۱۰۰۰-۱۴۰۰ ۹۵۰-۱۰۵۰ ۶۰۰-۹۳۰ ۴۵۰-۴۷۵ ق.م

## واپسی



**تاریخ** : د عیسیٰ مسیح نه

تقریباً ۵۰۰ نه ۴۰۰ کاله مخکښی.

**اهم واقعی** :د یهودیانو د ښرلو نه تقریباً یو سل څلویښت کاله پس هغوی ته اجازت ملاؤ شو چی خپل وطن ته واپس لاړ شی. حضرت عزرا ته اجازت ملاؤ شو چی یروشلیم ته لاړ شی او عبادتخانه دوباره جوړه کړی. نحمیاه ته اجازت ملاؤ شو چی یروشلیم ته واپس لاړ شی او د ښار نه ګیر چاپیره دوباره دیوالونه وخیژوی.

**لنډه دا چی** : ۱. حضرت عزرا یروشلیم ته واپس راغلو چی د عبادت خانی په جوړولو کښی مدد وکړی. ۲. بی بی آستر د فارص ملکه جوړیږی او یهودیان بچ کوی. ۳. حضرت نحمیاه یروشلیم ته ځی چی بیا دیوالونه وخیژوی. ۴. عبادتخانه او دیوالونه تر سره شول.



# تلاوت

اتم شخصيت د حضرت نحمياه دے چې مونږ به يې مطالعه کوو. خدائ پاک حضرت نحمياه استعمال کړے وو چې ډير په مشکل وخت کښې د هغهٔ د خلقو په مينځ کښې رهنمائ او ډاډ ګيرنه پيدا کړی.

## نحمياه

### ۱. پس منظر

حضرت نحميا ۴۳۰ قمری کښې ژوند تير کړے وو د فارس د بادشاه په زمانه کښې کله چې يهوديانو د شړلے کيدلو نه پس واپس د يهوديه وطن ته راتلل. په يروشليم کښې تر اوسه پورې کنډرات وو. (کال ۵۳٦ په شروع کښې). کله چې حضرت نحمياه د فارس د بادشاه د ارتخششتا د يو ساقی په حيثيت خدمت کولو، هغهٔ واؤريدل چې د يروشليم ديوالونه تر اوسه پورې د کنډراتو په شان دی. نو هغهٔ بيا د بادشاه نه اجازت ووغوښتلو چې لاړ شی او د يروشليم نه ګير چاپيره ديوالونو خيژولو کښې مدد وکړی.

### ۲. اهم واقعی

- دوباره آبادول: حضرت نحمياه يروشليم ته واپس راځی او کار شروع کوی. نحمياه ۳ - ۷
- نوی کول: د شريعت لوستل او په اولسی توګه توبه ويستل. نحمياه ۸ - ۱۰
- بيا جوړول: د ديوالونو وقف کول او په ښار کښې بيا اوسيدل. نحمياه ۱۱ - ۱۳

## ۳. حضرت نحمیاه چرته خپل ایمان څرګند کړے وو

- د وعده کړے شوی زمکی په حقله په خدائ پاک باندی یقین او وعده کړے شوی زمکی ته د خلقو واپس راتللو باندی یقین.
- د سخت مخالفت په باوجود د دیوالونو دوباره اوچتولو کښی د سخت وخت مقابله او ایمان.
- د خلقو رهنمائ کوی چی توبه ګار شی او د خدائ پاک سره تعلق ولری.

## ۴. مثالونو پسی تلل

- حضرت نحمیاه د دعاګانو په ذریعه د خدائ پاک رهنمائی غواړی. څۀ چی خدائ پاک زمونږ په ذریعه کول غواړی په هغی کښی مونږ یواځی نۀ یو مونږ له همیشه د خدائ پاک لټون پکار دے او د هغۀ په کلام کښی رهنمائی.
- د سخت مخالفت په باجود هغۀ کار کول جاری وساتل او ټینګ پاتی شو. د خدائ پاک ټول کارونه آسان نۀ دی. لکه د حضرت نحمیاه په شان داسی موقعی به راشی چی خلق او شیطان به زمونږ مخالفت کوی کله چی مونږ د خدائ پاک کار کوو. دا د ایمان او کوشش په وسیله باندی ده چی کار سر ته ورسیږی.
- هغۀ رهنمائی څرګنده کړله چی خلق یی دِ ته جوړ کړل چی د خلقو توجه خدائ پاک ته وګرځی. یو خدائ پرست رهنما هغه کس وی چی خلق د یو خاص کار طرفته رابلی او دِ سره سره د هغوی حقیقی روحانی رهنمائ هم کوی.





## خبری اتری

د خبرو کولو د پاره موضوع گانی

۱. د حضرت نحمیاه د ژوند په حقله خبری اتری وکړئ.

۲. حضرت نحمیاه زمونږ د پاره یو ښۀ کار پریښودے دے او شاید یو پُرامن ژوند چی یو خطرناک کار پکښی وکړو. هغۀ ولی داسی وکړل؟ آیا د هغۀ د پاره دا کول مشکل وو؟

۳. کله چی مونږ د خدائ پاک فرمانبرداری کوو او د هغۀ مرضی پوره کوو نو آیا کارونه به زمونږ د پاره آسان وی؟ آیا دا د حضرت نحمیاه د پاره آسان وو؟

۴. څۀ وجه ده چی حضرت نحمیاه یو ښه رهنما وو؟ آیا تۀ د خدائ پاک د پاره رهنما جوړیدے شی؟

۵. د خدائ پاک مقصدونو د پاره یو ځائ کار کولو په حقله مونږ څۀ زده کولے شو؟

۶. وگورئ ۴: ۹ ته دا مونږ ته د دعا په حقله څۀ تعلیم راکوی؟

**شاته لاړ شئ او تیر شوی ټول سبقونه بیا وگورئ.**



## په یاده یاد کړئ

۱. د بائبل مقدس د شپږمی او اوومی هفتی آیتونه ووایئ. زبور ۱۹ : ۱۴ او دانی ایل ۶: ۱۶

۲. د اتمی هفتی د بائبل مقدس آیت:

"خفه کیږئ مه ولی چی د مالک خدائ خوشحالی ستاسو قوت دے." نحمیاه ۸: ۱۰

# نهمه هفته : خاموشی



## بیا کتل

د تیری شوی هفتی سبق دوباره کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | (بیا کتل) |
|  | | حضرت عیسیٰ |
|  | | پطروس رسول |
|  | | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چی په خپلو کښی تړون لری.

۲. د هری یوی سرنامی د لاندی د بائبل مقدس یوه او یا د یوی نه زیاتی سیپاری دی. آیا تاسو کولے شئ چی د اتو هفتو سرنامو کښی د هری یوی خاص سیپاری نوم واخلئ.

۳. د زړی لوظ نامی د ټولو ۳۹ سیپارو نومونه واخله.



## زده کړه

په زړه لوظ نامه کښی د تقسیم د نومونو او د سیپارو د نومونو مطالعه جاری ساتئ.



## په زړه لوظ نامه کښې تقسیم او د سیپارو نومونه

د زړې لوظ نامې د تقسیم په آخرنۍ برخه کښې د پشن ګویۍ سیپارې دی. د پشن ګویۍ سیپارې په دوو برخو کښې تقسیم دی: لوئ پیغمبران او په رُتبه کښې د نورو نه لږ وارۀ پیغمبران. د دِ سرنامو لاندې د سیپارو د نومونو مطالعه وکړئ.

| تاریخی ۱۷ سیپاری | | شاعری (۵ سیپاری) | پیشن ګوئی ۱۷سیپاری | |
|---|---|---|---|---|
| پیدایښت | تورات | ایوب | یسعیاه | لوئ پیغمبران |
| هجرت | | زبور | یرمیاه | |
| احبار | | امثال | نوحه | |
| ګنتی، شمیر | | واعظ | حزقی ایل | |
| استثنا | | غزلُ الغزلات | دانی ایل | |
| یشوع | تاریخی سیپاری | | هوسیع | په رُتبه کښې د نورو نه لږ وارۀ پیغمبران |
| قضاة قاضیان | | | یوایل | |
| روت | | | عاموس | |
| ۱-سموئیل | | | عبدیاه | |
| ۲-سموئیل | | | یوناه | |
| ۱-سلاطین بادشاهان | | | میکاه | |
| ۲-سلاطین بادشاهان | | | ناحوم | |
| ۱-تواریخ | | | حبقوق | |
| ۲-تواریخ | | | صفنیاه | |
| عزرا | | | حجی | |
| نحمیاه | | | زکریاه | |
| آستر | | | ملاکی | |

دا د هری یوی سیپاری تاریخ دے چی د تاریخی سیپارو په تقسیم کښی راځی. د دِ نقشی د مطالعی په مدد سره به تاسو پوهه شئ چی هر یوه سیپاره د بلی سره څنګه تعلق لری د وخت په مطابقت سره.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| احبار | استثنا | روت | | ۱ تواریخ | ۲ تواریخ | آستر |
| پیدایښت هجرت | شمیر | یوشوع قاضیان | ۱ سموئیل | ۲ سموئیل | ۱ بادشاهان ۲ بادشاهان | عزرا نحمیاه |
| ۲۰۰۰-۲۴۰۰ | ۱۵۰۰ | ۱۴۵۰ | ۱۰۰۰-۱۴۰۰ | ۹۵۰-۱۰۵۰ | ۶۰۰-۹۳۰ | ۴۵۰-۴۷۵ ق.م |

## خاموشی




**تاریخ** : تقریباً د عیسیٰ مسیح د راتګ نه ۴۰۰ کاله مخکښی.

**اهم واقعی** : یهودیان د شړلو نه پس چی راواپس شول نو هغوی په هغه وطن کښی اوسیدل د کوم چی خدائ پاک د هغوی سره لوظ کړے وو. د دِ عبادت خانی جوړیدو نه پس یهودیانو قربانئ او مذهبی رسمونه بیا شروع کړل څنګه چی د حضرت موسیٰ په ذریعه خدائ پاک ورکړی وو. اسرائیلیان یو ځل بیا په جدا جدا وختونو کښی د دوؤ طاقتورو بادشاهانو په قابو کښی راغلل.

**لنډه دا چی** : ۱. شړلے شوی اسرائیلیان واپس وطن ته راغلل. ۲. مذهبی رسمونه میلی او اخترونه یی دوباره شروع کړل. ۳. د یونان بادشاه اسرائیلیان فتح کړل او د عبادت خانی بی حرمتی یی وکړه، او جنګ شروع شو. ۴. د روم بادشاه بنی اسرائیل فتح کوی او حکومت پری کوی.



# تلاوت

د نبیانو صحیفی(سیپاری) خو ډیری زیاتی دی. په دِ کښی څۀ ډیری غتی دی او پوهیدل پری ګران دی زیات تر دا د یهودیانو د پاره لیکلے شوی دی خو په دِ کښی مونږ ته د راکولو د پاره نن هم ډیر څۀ شته دے. دا صحیفی د خفاظت او د برکتونو د عجیبه وعدو نه ډکی دی او دِ سره سره هغه چا ته پکښی خبردارے دے څوک چی د خدائ پاک او د هغۀ سره د وفادارئ نه بغیر په بل څۀ عقیده لری.

دا د تاریخ په مناسبت سره د پیغمبرانو د صحیفو ترتیب دے. دا ضروری نۀ ده چی تاسو د دِ صحیفو په دِ ترتیب سره تلاوت وکړئ، دا صرف د دِ د پاره چی ستاسو په پوهه کښی مدد وکړی چی دا څنګه په تاریخی لحاظ سمون خوری.

## د بنی اسرائیلو په شمالی بادشاهئ باندی د شړلو شروع ۸۰۰ - ۷۰۰

یُوایل ۸۴۰ - ۸۳۰

یوناه (یونس) ۷۹۰ - ۷۷۰

عاموس ۷۸۰ - ۷۴۰

هوسیع ۷٦۰ - ۷۲۰

یسعیاه ۷۴۵ - ٦۹۵

میکاه ۷۴۰ - ۷۰۰

## د بنی اسرائیلو بندیوان کیدل او د یهوداه جنوبی بادشاهئ د شړلو شروع ۷۳۴ - ۵۸۰

صفنیاه ٦۳۹ - ٦۰۸

ناحوم ٦۳۰ - ٦۱۰

یرمیاه ٦۲٦ - ۵۸٦

حبقوق ٦٠٦ - ٥٨٦

عبدیاه ٥٨٦

## یهوداه بندی کیږی ٦٠٦ - ٥٣٦

دانی ایل ٦٠٦ - ٥٣۴

حِزقی ایل ٥٩٢ - ٥٧٠

## یهوداه د بندیوانئ نه واپس کیږی ٥٣٦ - ۴٠٠

حَجی ٥٢٠ - ٥١٦

زکریا ٥٢٠ - ٥١٦

ملاکی ۴٥٠ - ۴٠٠



## خبری اتری

لاندی درج شوو سوالونو باندی خبری وکړئ. (دوباره کتنه)

١. تر اوسه پوری چی په بائبل مقدس کښی تاسو د څومره شخصیتونو په حقله لوستنه وکړه د هغوی نومونه اخستے شئ؟

٢. تاسو د هغه سیپارو نومونه اخستے شئ په کومو کښی چی د دِ شخصیتونو ذکر شوے وی؟

٣. تاسو د هغوی د ژوند په حقله لږی خبری کولے شئ.

۴. داسی یوه واقعه بیان کړئ چی دا شخصیتونه پکښی د خدائ پاک سره په تعلق کښی ناکام شوی وی.

۵. داسی یوه واقعه بیان کړئ چی پکښی دِ شخصیتونو خپل ایمان او یقین څرګند کړے وی.

۶. دوه شخصیتونه غوره کړئ او د هغوی تفصیل بیان کړئ چی خدائ پاک څنګه د هغوی مدد کړے وو.

۷. ستاسو د خوښی شخصیت کوم یو وو؟

۸. ولی هغه ستاسو د خوښی شخصیت وو یا وه د کومو چی تر اوسه پوری مونږ مطالعه کړی ده.

۹. څۀ چی تاسو د دِ شخصیتونو نه ازده کړی دی په هغی کښی تاسو څۀ په خپل ژوند کښی په عملی توګه خپل کړئ دی؟

۱۰. داسی کوم یو سبق دے چی ستاسو په ژوند کښی زیات ښکاره کیږی چی د دِ شخصیتونو نه مو ازده کړے دے؟

**د راتلونکی هفتی د پاره د متی سیپاری تلاوت وکړئ.**



## په یاده یاد کړئ

لاندی فهرست د بائبل مقدس د هغه آیتونو دے چی تاسو تر اوسه پوری په یاده یاد کړی دی. دی آیتونو ته بیا وګورئ او دا یقینی کړئ چی دا ستاسو زړۀ کښی ناست وی.

اول کورنتیان ۱۵ : ۲۲

پیدایښت ۱۵ : ۶

عبرانیان ۱۱ : ۲۴ - ۲۵

یشوع ۱ : ۹

قاضیان ۸ : ۲۳

زبور ۱۹ : ۱۴

دانی ایل ۶ : ۱۶

نحمیاه ۸ : ۱۰

# لسمه هفته : زیرمے



## بیا کتل

د تیری شوی هفتی سبق دوباره کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | حضرت عیسیٰ |
|  | | پطروس رسول |
|  | | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چی په خپلو کښی تړون لری.

۲. په نوی لوظ نامه کښی څو سیپاری دی؟

۳. تاسو د نوی لوظ نامی د وړومبنو څلورو سیپارو نومونه اخستے شئ (چی د زیری په نامه یادیږی)؟



## زده کړه

اوس مونږ د بائبل مقدس په دویمه غټه برخه کښی یو. د بائبل مقدس دِ دویمی ''نیمی'' برخی ته نوی لوظ نامه وایی. نوی لوظ نامه په څلورو برخو کښی تقسیم شوی ده. اولنئ برخی ته زیری وائی کوم چی مونږ ته دا ښودنه کوی چی کله حضرت عیسیٰ دلته په دُنیا کښی وو نو هغهٔ څهٔ وکړل او د څهٔ تعلیم یی ورکولو. دویمه برخه اعمال د رسولانو ده چی مونږ ته پکښی د کلیسیا (جماعت) د شروع کیدلو او د رسولانو کارونه ښودلے شوی دی. د نوی لوظ نامی دریمه برخه خطونه دی چی کلیسیا (جماعتونو) ته لیکلے شوی دی. آخری برخه یی مکاشفات ده چی پکښی د آخری وختونو ذکر شوے دے. د نوی لوظ نامی د ټولو سیپارو د نومونو او د تقسیم مطالعه وکړئ او زبانی یی یاد کړئ.



## په نوی لوظ نامه کښی د سیپارو نومونه او تقسیم

## په نوی لوظ نامه کښی څلور تقسیمونه[1]

| زیرے | اعمال د رسولانو | خطونه | مکاشفات |
|---|---|---|---|
| متی | | رومیان | |
| مرقوس | | کورنیتیان ۱، ۲ | |
| لوقا | | ګلتیان | |
| یوحنا | | افسسیان | |
| | | فیلیپیان | |
| | | کولوسیان | |
| | | تسالونیکیان ۱، ۲ | |
| | | تیموتیوس | |
| | | تیطوس | |
| | | فیلیمون | |
| | | عبرانیان | |
| | | یعقوب | |
| | | پطروس ۱، ۲ | |
| | | یوحنا ۱ ، ۲، ۳ | |
| | | یهوداه | |

[1] د انجیل شریف یا د نوی لوظ نامی اولنئ څلور سیپاری د زیری په نامه یادیږی.



# زيرے

**تاريخ** : د عسيیٰ مسيح د پيدايښ
ت نه تقريباً ۳ نه ۳۰ کاله پس.

**اهم واقعی** : هر يو زيرے د حضرت عيسیٰ د ژوند په مختلف موضوع سره شروع کيږی. متی او لوقا د عيسیٰ مسيح د پيدايښت په حقله ښودنه کوی او مرقوس او يوحنا په شروع کښی د عيسیٰ مسيح د خدمت په حقله ښودنه کوی. خو بيا هم دا ټول د حضرت عيسیٰ د اهم کارونو او تعليماتو په حقله ښودنه کوی او ټول زيری مونږ د د عيسیٰ مسيح د مرګ او د بيا راژوندی کيدو بيان هم کوی.

**لنډه دا چی** : ۱. پيدايښت او د شروع کلونه. ۲. د هغۀ د خدمت شروع. ۳. ژوند، تعليمات او معجزی. ۴. په زمکه باندی د هغۀ د خدمت اختتام، مرګ او دوباره ژوندی کيدل.



# تلاوت

اوس مونږ په نوی لوظ نامه کښی يو او د دِ په سيپارو کښی به مونږ د درج شوو يو څو شخصيتونو د ژوند په حقله مطالعه کوو. په زيرو کښی او په ټوله نوی لوظ نامه کښی د ټولو نه عظيمه هستی د عيسیٰ مسيح ده. اګر کۀ د هغۀ په حقله په زړه لوظ نامه کښی پيشن ګويانی هم شوی وی _ او هغه د دنيا د پيدايښت نه د ټولو وختونو او تاريخ نه مخکښی موجود وو، ځکه چی هغه خدائ دے _ په نوی لوظ نامه کښی مونږ د هغۀ په حقله حقيقت ازده کوو.

## عیسیٰ مسیح

### ۱. پس منظر

په زړه لوظ نامه کښې د حضرت عیسیٰ په حقله پیشن ګویانی شوی وی. لکه د وړومبنی انسان حضرت آدم په شان د حضرت عیسیٰ دنیا ته راتلل یوه معجزه وه، د هغهٔ مور پیغله مریم د پاک روح نه امیدواره شوی وه. مونږ ته د حضرت عیسیٰ د وړوکوالی په حقله ډیر لږ معلومات شته، خو کله چې یحییٰ بپتسمه ورکونکی هغهٔ له بپتسمه ورکړه نو هغهٔ په ښکاره خپل خدمت شروع کړو. هغهٔ خپل عظیم قوت د معجزو په ذریعه څرګند کړو او دِ سره سره د هغهٔ د تعلیماتو او خاص کر د شاګردانو تربیت کولو سره کوم چې هغهٔ د خپل خدمت د پاره غوره کړی وو. د حضرت عیسیٰ آخری کار په زمکه باندی په سولئ وو چرته چې هغه د ټولی دنیا د ګناهونو د پاره په سولئ شو. دری ورځی پس هغه د قبر نه ژوندے پاڅیدو، مرګ ګناه او د شیطان کارونو له یی شکست ورکړو.

### ۲. اهم واقعی

- د هغهٔ د پیدایښت اعلان.  لوقا ۱ : ۲۶ - ۵۶
- د هغهٔ پیدایښت.  لوقا ۲ : ۱ - ۲۰
- د هغهٔ بپتسمهز  لوقا ۳ : ۱ - ۲۲
- ازمیښتز  لوقا ۴ : ۱ - ۱۳
- خدمت او ژوند
- د هغهٔ ګرفتاری.  لوقا ۲۲ : ۴۷ - ۵۳
- مقدمه.  لوقا ۲۲ : ۵۴ - ۲۳ : ۵۵
- په سولئ کیدل.  لوقا ۲۳ : ۲۶ - ۵۹

- خښيدل. لوقا ۲۳ : ۵۰ - ۵۵
- د مړو نه ژوندے پاڅيدل. لوقا ۲۴ : ۱ - ۱۲
- آسمان ته ختل. لوقا ۲۴ : ۵۰ - ۵۳

### ۳. د هغهٔ د راتلو پيشن ګوئی

- د هغهٔ پيدايښت. يسعياه ۷ : ۱۴
- د هغهٔ د پيدايښت ځائ. ميکاه ۵ : ۲
- د هغهٔ د راتلو سبب. يسعياه ۴۲ : ٦
- د هغهٔ مرګ. يسعياه ۵۳ : ۱ - ۹ ، زبور ۲۲ : ۷ - ۱۸

### ۴. د عيسیٰ مسيح خوبئ

- هغه بالکل پاک وو. لوقا ۱ : ۳۵
- د هغهٔ سره ريښتينی مينه وه. افسيان ۳ : ۱۹
- هغه په ربښتيا عاجز وو. فيليپيان ۲ : ۵ - ۸
- هغه مهربان وو. متی ۱۱ : ۲۹
- هغهٔ په دعا کښی ژوند تير کړے وو. متی ۱۴ : ۲۳
- هغهٔ د خدائ پاک د پاره سخت محنت کړے وو. يوحنا ۵ : ۱۷

### ۵. د عيسیٰ مسيح د ژوند نه سبقونه

- اګر کهٔ عيسیٰ مسيح مقدس وو هغه انسان هم وو هغهٔ د ټولو د پاره يو مثال جوړ کړو څوک چی په هغهٔ ايمان لری. فيليپيان ۲ : ۱ -۵

- مونږ له په عملونو کښې د هغهٔ په شان کیدل دی، تر هغه ورځ پورې چې مونږ هغه وګورو چې کله مونږ به د هغهٔ په شان شو. اول یوحنا ۳ : ۲
- حضرت عیسیٰ د خدائ پاک په روح باندې باور لرلو، هم په هغه روح باندې کوم چې هغه مونږ له نن راکوی (یوحنا ۱۶ : ۷ - ۱۵ ، افسیان ۱: ۱۳) چې پکښې د پلار کار او مرضی وکړو.
- هغه په ټولو کارونو کښې تابعدار وو، په مرګ کښې هم، زمونږ د پاره یو مثال وو چې ازده کړو او هم هغسې کوو. فیلیپیان ۲ : ۸



## خبرې اترې

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانې

۱. د ګناهګارانو سره د حضرت عیسیٰ رویه څنګه وه؟ زمونږ رویه او تعلق د ګناهګارو سره څنګه پکار دے چې مونږ یې پیژنو؟

۲. حضرت عیسیٰ به د ښځو او ماشومانو سره څنګه سلوک کولو؟ آیا مونږ له هم هغوی سره هغسې سلوک کول پکار دی؟ تشریح وکړئ چې څنګه؟

۳. حضرت عیسیٰ د خپل پلار، خدائ پاک سره څنګه تعلق لرلو؟ زمونږ تعلق به د خدائ پاک سره څنګه وی؟

۴. د حضرت عیسیٰ احساسات څنګه وو او د پیریانو او شیطان سره څنګه پیش شوے وو؟ مونږه دا د اوسنئ زمانې او دور دستور په مطابق په خپل ژوند کښې په عملی توګه څنګه راوستے شو؟

۵. حضرت عیسیٰ مونږ ته ډیر څیزونه ښودلی دی. هغه کوم یو څیز دے چې هغۀ ښودلے دے چې تۀ یې په خپل ژوندون کښې راوستے شې؟

**د راتلونکی هفتې د پاره اعمال د رسولانو اول باب نه دولسم باب پورې تلاوت وکړئ.**



## په یاده یاد کړئ

۱. د لسمې هفتې د بائبل مقدس آیت

"په ما کښې اوسئ لکه زۀ چې په تاسو کښې اوسم. یوه څانګه هم د خپله ځانه میوه نۀ شي نیولے،تر څو چې هغه د انګور د بوټي سره پاتې نۀ وی. تاسو هم تر هغې میوه نۀ شئ نیولے تر څو چې تاسو په ما کښې نۀ اوسئ." یوحنا ۱۵ : ۴



# یولسمه هفته : جماعت



## بیا کتل

د تیری شوی هفتی سبق دوباره کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | پطروس رسول |
|  | | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چی په خپلو کښی تړون لری.

۲. په نوی لوظ نامه کښی د څلورو تقسیمونو نومونه اخستې شئ؟

۳. تاسو د نوی لوظ نامی د وړومبنو څلورو سیپارو نومونه اخستې شئ چی د زیری په نامه یادیږی؟



## زده کړه

په نوی لوظ نامه کښی د سیپارو او د تقسیمونو د نومونو مطالعه جاری ساتئ.



## په نوی لوظ نامه کښې د سیپارو نومونه او تقسیم

## په نوی لوظ نامه کښې څلور تقسیمونه[۲]

| زیرے | اعمال د رسولانو | خطونه | مکاشفات |
|---|---|---|---|
| متی | | رومیان | |
| مرقوس | | کورنیتیان ۱ ، ۲ | |
| لوقا | | ګلتیان | |
| یوحنا | | افسسیان | |
| | | فیلیپیان | |
| | | کولوسیان | |
| | | تسالونیکیان ۱ ، ۲ | |
| | | تیموتیوس | |
| | | تیطوس | |
| | | فیلیمون | |
| | | عبرانیان | |
| | | یعقوب | |
| | | پطروس ۱ ، ۲ | |
| | | یوحنا ۱ ، ۲ ، ۳ | |
| | | یهوداه | |

[۲] د انجیل شریف یا د نوی لوظ نامی اولنئ څلور سیپاری د زیری په نامه یادیږی.

## جماعت



**تاریخ** : د عیسیٰ مسیح د پیداېښت نه تقریباً
۳۰ نه ۵۰ کاله پس.

**اهم واقعی** : د عیسیٰ مسیح آسمان ته ختلو نه پس او هر یو ایماندار ته د روح القدس راتلو سره د جماعت زیرېدنه وشوه. اعمال د رسولانو سیپاره کښې د جماعت شروع د کیدلو او د هغې تاریخ او کارنو په حقله ښودنه کوی او یا د عیسیٰ مسیح د رسولانو د اعمالو په حقله ښودنه کوی چې په اول کښې وو.

**لنډه دا چې** : ۱. د روح القدس په وسیله د جماعت زیرېدنه. ۲. په یروشلیم کښې د جماعت وده کول. ۳. د جماعت ځورونه او تکلیفونه. ۴. د ایماندارانو او د عیسیٰ مسیح د پیغام خوریدنه په سامریه او ورپسې په ټوله دنیا کښې.



## تلاوت

مونږه د لسمی هفتې په سبق کښې د بائبل مقدس د ټولو نه د اهم هستئ حضرت عیسیٰ په حقله ولوستل. په دِ هفته کښې به مونږ د پطروس رسول د ژوند په حقله مطالعه کوو، د حضرت عیسیٰ د یو شاګرد په حقله چې د جماعت په شروع کښې خدائ پاک استعمال کړے وو. وروستو هغه بیا د دِ جماعت یو اهم رهنما جوړ شو.

# پطروس

## ۱. پس منظر

پطروس رسول یو ډیر اوچت تعلیم یافته کس نهٔ وو. د ګلیل په دریاب کښې هغه صرف یو ساده ماهی ګیر وو (متی ۴ : ۱۸). د پطروس ورور اندریاس د یحیٰی بپتسمه ورکونکی مرید وو او د حضرت عیسیٰ په وړومبنو مریدانو کښې وو (یوحنا ۱ : ۳۵ - ۴۰). کله چې اندریاس په وړومبی ځل حضرت عیسیٰ سره ملاو شو نو منډه یی کړه چې خپل ورور ته د هغهٔ په حقله ووایی. کله چې حضرت عیسیٰ پطروس ولیدو چې نوم یی شمعون وو، نو حضرت عیسیٰ د هغهٔ نوم کیفا کیښودو چې معنیٰ یی ګټ ده (یوحنا ۱ : ۴۱ - ۴۲). د هغه وخت نه پس داسی ښکاریږی چې پطروس رسول او د هغهٔ ورور خپله د ماهی ګیرئ پیشه پریښودله او عیسیٰ مسیح پسی تلونکی جوړ شول. پطروس رسول د جماعت مشر جوړ شو او دوه خطونه یی هم ولیکل اول او دویم پطروس. داسی خیال دے چې پطروس رسول د هغهٔ د ایمان په وجه په سولئ قتل کړے شوے وو.

## ۲. اهم واقعی

- حضرت عیسیٰ پطروس ته ووئیل ماپسی راځه. متی ۴ : ۱۸ - ۲۰، یوحنا ۱ : ۴۲
- پطروس حضرت عیسیٰ د مسیح په توګه پیژنی. متی ١٦ : ۱۳ - ۲۰
- پطروس د عیسیٰ مسیح د شکل بدلیدلو په وخت موجود وو. متی ۱۷ : ۱ ، ۲
- پطروس د حضرت عیسیٰ د پیشئ په وخت موجود وو. متی ۲۶ : ٦۹ - ۷۵
- هغهٔ له حضرت عیسیٰ اختیار ورکوی. یوحنا ۲۱ : ۱۵ - ۱۹
- په پنتکُست کښې د پطروس رسول وعظ. اعمال د رسولانو ۲
- پطروس رسول یو شل سړی له د خدائ پاک په کور کښې شفا ورکوی. اعمال د رسولانو ۳ : ۱ - ۱۰

- پطروس رسول غير يهويانو ته وعظ کوی. اعمال د رسولانو ۱۰ - ۱۱

## ۳. پطروس رسول چرته ځپل ايمان ښرګند کړے وو

- پطروس رسول په اوبو باندی وګرځيدو. متی ۱۴ : ۲۹
- پطروس رسول حضرت عيسیٰ د مسيح په توګه وپيژندو.  متی ۱۶ : ۱۳ - ۲۰
- په پنتکُست کښی پطروس رسول وعظ وکړو.  اعمال د رسولانو ۲
- پطروس رسول يو سړے روغ کړو.  اعمال د سولانو ۳ : ۱ - ۱۰
- د سخت مذهبی او حاکمانو د مخالفت باوجود پطروس رسول د زيری وعظ اورولو.  اعمال د رسولانو ۴ : ۱ - ۲۲

## ۴. ناکامی/کمزوری

- پطروس رسول په درياب کښی ډوبيږی.  متی ۱۴ : ۳۰
- پطروس رسول د حضرت عيسیٰ په مقصد باندی پوهه نۀ شو.  متی ۱۶ : ۲۱ - ۲۳
- د عيسیٰ مسيح نه د پطروس رسول انکار.  متی ۲۶ : ٦۹ - ۷۵
- پطروس رسول د غيريهوديانو په مدد کښی ناکام شو.  ګلتيان ۲ : ۱۱ - ۱۴

## ۵. مثالونو پسی تلل

- پطروس رسول يو سرتيزه شاګرد وو خو ډير ځلی د هغۀ ارادی او او عملونه غلط وو.
- پطروس رسول به مضبوط وو چی کله به يی نظر په مالک باندی ساتلو، او ناکام به وو چی کله به يی نظر د هغۀ نه اخوا کولو.
- کله چی پطروس رسول د روح القدس نه معمور (ډک) شو، نو هغه په جماعت کښی يو ډير غټ رهنما جوړ شو.

- اګر کۀ پطروس رسول ډیری غلطیانی کړی وی، همیشه به په هغی پښیمانه شو او د خدائ په فضل به بیا ټیک شو.



## خبری اتری

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانی

۱. د پطروس رسول د ژوند په حقله خبری وکړئ.

۲. پطروس رسول شاید چی په ټولو شاګردانو کښی زړۀ ور وو. دا ښۀ وو کۀ بد؟ آیا تاسو له هم د ایمان په حقله زړۀ ور کیدل پکار دی؟

۳. پطروس رسول ډیر ځل ناکامه شوے وو خو بیا هم هغۀ هیڅکله ایمان پریښودلے نۀ وو. تاسو د یو عیسائی په حیثیت کله په څۀ کښی ناکام شوی یئ؟ لکه د پطروس رسول، مونږ ټول په څۀ نا څۀ کښی ناکامه شوی یو. مونږ له د دِ په حقله څۀ کول پکار دی؟

۴. ولی خدائ پاک د پطروس رسول استعمال جاری وساتلو، اګر چی پطروس رسول د هغۀ نه دری ځله انکار کړے وو؟

۵. خدائ پاک په خپل جماعت کښی تا څنګه استعمالولے شی؟

**د راتلونکی هفتی د پاره اعمال د رسولانو دیارلسم باب نه اتۀ ویشتم باب پوری تلاوت وکړئ.**



# په یاده یاد کړئ

١.  د لسمی هفتی د بائبل مقدس آیت ووایه.  یوحنا ١۵ : ۴

٢.  د یولسمی هفتی د بائبل مقدس آیت:

"نو بیا د خُدائی د مضبوط لاس د لاندی په حلیمئ اوسیږئ چی هغه تاسو په وخت باندی سربلند کړی. او خپل ټول فکر په هغهٔ واچوئ ځکه چی هغه ستاسو خیال لری."
اول پطروس ۵ : ٦ - ٧



# دولسمه هفته : تبلیغ



## بیا کتل

د تیرې هفتې سبق ته بیا کتل.

| | | |
|---|---|---|
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | |
|  | | پولوس رسول |

۱. د دولسو هفتو دولسو سرنامو نومونه ولیکه. د بائبل مقدس د کردارونو نومونه چی په خپلو کښی ترون لری.

۲. په نوی لوظ نامه کښی د څلورو تقسیمونو نومونه اخستے شئ؟

۳. په نوی لوظ نامه کښی د ټولو سیپارو نومونه اخستے شئ؟



## زده کړه

زمونږ د مطالعی دا آخری هفته ده. پکار دی چی اوس تاسو د نوی او زړی لوظ نامی په تقسیمونو باندی پوهیږئ او دِ سره سره د بائبل مقدس د ټولو سیپارو په نومونو هم. تاسو اوس دِ ته بیا کتلے شئ.



## په زړه لوظ نامه کښې تقسيم او د سيپارو نومونه

| تاريخی ۱۷ سيپاری | | شاعری (۵ سيپاری) | پيشن ګوئی ۱۷سيپاری | |
|---|---|---|---|---|
| پيدايښت | تورات | ايوب | يسعياه | لوئ پيغمبران |
| هجرت | | زبور | يرمياه | |
| احبار | | امثال | نوحه | |
| ګنتی، شمير | | واعظ | حزقی ايل | |
| استثنا | | غزلُ الغزلات | دانی ايل | |
| يشوع | تاريخی سيپاری | | هوسيع | په رُتبه کښې د نورو نه لږ وارۀ پيغمبران |
| قضاة  قاضيان | | | يوايل | |
| روت | | | عاموس | |
| ۱-سموئيل | | | عبدياه | |
| ۲-سموئيل | | | يوناه | |
| ۱-سلاطين بادشاهان | | | ميکاه | |
| ۲-سلاطين بادشاهان | | | ناحوم | |
| ۱-تواريخ | | | حبقوق | |
| ۲-تواريخ | | | صفنياه | |
| عزرا | | | حجی | |
| نحمياه | | | زکرياه | |
| آستر | | | ملاکی | |

# په نوی لوظ نامه کښې څلور تقسیمونه

| زیرے | اعمال د رسولانو | خطونه | مکاشفات |
|---|---|---|---|
| متی | | رومیان | |
| مرقوس | | کورنیتیان ۱، ۲ | |
| لوقا | | ګلتیان | |
| یوحنا | | افسسیان | |
| | | فیلیپیان | |
| | | کولوسیان | |
| | | تسالونیکیان ۱، ۲ | |
| | | تیموتیوس | |
| | | تیطوس | |
| | | فیلیمون | |
| | | عبرانیان | |
| | | یعقوب | |
| | | پطروس ۱، ۲ | |
| | | یوحنا ۱ ، ۲، ۳ | |
| | | یهوداه | |





## تبليغ

**تاريخ** : د عيسیٰ مسيح د پيدايښت نه تقريباً ۴۵ نه ٦۵ کاله پس.

**اهم واقعی** : په يروشليم کښی په جماعت باندی د ځورنی او تنګسيا په دوران کښی عيسايان ګيرچاپيره ښارونو او علاقی ته ووتل. د انطاکيه جماعت عظيم او ډير اوچت تبليغی پولوس رسول ليږلے وو. پولوس رسول او د هغهٔ ملګرو په ټول ايشيا کښی او د يورپ په يو څو برخو کښی تبليغ د پاره سفر کړے وو، وعظ به يی کولو، تعليم به يی ورکولو، او نوی جماعتونه به يی شروع کول.

**لنډه دا چی** : ۱. د پولوس رسول په عيسیٰ مسيح باندی ايمان راوړل. ۲. پولوس رسول او برنبا جماعت بهر ليږلی وو. ۳. پولوس رسول د خپل خدمت په دوران کښی د وعظ کولو او جماعتونو شروع کولو د پاره په ټول ژوند کښی دری سفرونه کړی وو. ۴. پولوس رسول په جيل کښی واچولے شو.



## تلاوت

پولوس رسول د نوی لوظ نامی د تبليغ يوه نمونه ده، کومه چی شروع شوی ده کله چی خدائ پاک خپلو منونکو (انبياؤ) مثلاً حضرت ابراهيم او حضرت موسیٰ ته وئيلی وو چی خپل کورونه پريږدی او هلته لاړ شی چرته يی چی هغه ليږی.

# پولوس

## ۱. پس منظر

پولوس رسول چی اول د ساؤل په نوم یادیدو، په ترسوس کښی پیدا شوے وو. هغه یو یهودی وو او د بنیامین د قبیلی نه وو، او یو فریسی وو چی د یهودیانو د شریعت نه خبر وو. هغۀ د خپل مذهب سره هم ډیر شوق لرلو. هغۀ په شروع کښی جماعت له ډیر زیات مصیبتونه او تکلیفونه ورکړی وو (فیلیپیان ۳ : ۵ ، ٦). پولوس رسول د عیسیٰ مسیح سره سخت مخالفت لرلو چرته چی د هغۀ نوم پولوس ته بدل شو - چی معنیٰ یی ده "وړوکے" - او هغه یو ایماندار جوړ شو. پولوس رسول بیا سفر شروع کړو او د زیری وعظ به یی کولو او د ایماندارانو ټولگی به یی شروع کول، تعلیمات به یی ورکول او جماعتونو ته به یی خطونه لیکل. داسی خیال کیږی چی پولوس رسول په رُوم کښی مړ کړے شو.

## ۲. اهم واقعی

- ساؤل جماعت آزاروی، او د ستِفانوس په سنگسارولو کښی حصه اخلی. اعمال د رسولانو ۷ : ۵۴ - ۸ : ۳
- د پولوس رسول په عیسیٰ ایمان راوړل. اعمال د رسولانو ۹ : ۱ - ۱۹
- په عربستان کښی د پولوس رسول تربیت. گلتیان ۱ : ۱۷
- پولوس رسول او برنبا غوره کړے شوی وو چی دنیا ته د زیری تعلیم ورکړی. اعمال د رسولانو ۱۳ : ۱ - ۳
- د پولوس رسول د تبلیغ د پاره وړومبنے سفر. اعمال د رسولانو ۱۳ - ۱۴
- د پولوس رسول د تبلیغ د پاره دویم سفر. اعمال د رسولانو ۱۵ : ۳٦ - ۱۸ : ۲۲
- د پولوس رسول د تبلیغ د پاره دریم سفر. اعمال د رسولانو ۱۸ : ۲۳ - ۲۱ : ۱٦
- پولوس رسول په یروشلیم کښی گرفتار شو. اعمال د رسولانو ۲۱ : ۲۷ - ۲۲ : ۲۹

- پولوس رسول د پیشئ د پاره رُوم ته بوتلے شو. اعمال د رسولانو ۲۱ : ۲۷ - ۲۸ : ۳۱

## ۳. پولوس رسول چرته خپل ایمان ښرگند کړے وو

- پولوس رسول د خدائ پاک فرمانبرداری وکړه، سفر یی وکړو او وعظ یی وکړو. اعمال د رسولانو ۱۳ : ۱ - ۳
- پولوس رسول د سخت مخالفت، تکلیف، او عذاب په باوجود وعظ آورولو. دویم کورنتیان ۱۱ : ۱۶ - ۳۳
- پولوس رسول د جماعت د پاره په وفادارئ سره کار وکړو. اعمال د رسولانو ۲۰ : ۲۰ - ۳۸
- او تر آخره پوری وفادار وو. ۲ تیموتیوس ۴ : ۷

## ۴. ناکامی/کمزوری

- د هغۀ په ژوند کښی یو ناپیژندگلو حالت چی هغه یی کمزورے کړے وو. دویم کورنتیان ۱۲ : ۷ - ۱۰
- د نورو سره بی صبری. اعمال د رسولانو ۱۵ : ۳۷ - ۴۰

## ۵. مثالونو پسی تلل

- خدائ پاک هغه سړے هم بچ کولے او معاف کولے شی چا چی عیسایان قتلول غوښتل.
- پولوس رسول نۀ صرف په فضل تعلیم ورکولو بلکه خپل ژوند یی د دِ لاندی تیرولو او دا فضل به یی نورو ته ښودلو.
- پولوس رسول د روح القدس نه معمور وو. اعمال د رسولانو ۹ : ۱۷

- پولوس رسول ته خپل ځان کمزورے ښکاریدو د هغه کار د پاره چی خدائ پاک هغۀ له ورکړے وو، خو د میسح د قوت په ذریعه هغۀ هغه هر څۀ وکړل.
- پولوس رسول تر آخره پوری د خدائ پاک فرمانبردار وو. د مسیح د قوت په وسیله پولوس رسول د پاره هیڅ هم ناممکن نۀ وو. فیلیپیان ۴ : ۱۳
- پولوس رسول سره د خدائ پاک وفاداری.



## خبری اتری

د خبرو کولو د پاره موضوع ګانی

۱. د پولوس رسول د ژوند په حقله خبری وکړئ.

۲. پولوس رسول جماعت آزارولو او عیسایانو سره به یی زیاتے کولو، خو بیا هم خدائ پاک هغه معاف کړو او استعمال یی کړو. آیا تاسو داسی څۀ کړی دی چی د هغی د پاره خدائ پاک تاسو معاف کړی؟

۳. پولوس رسول خپل ژوند جماعت د پاره وقف کړو او د دِ د پاره یی سخت محنت وکړو. تاسو نن د پولوس رسول مثال څنګه سرته رسولے شئ؟

۴. پولوس رسول د مسیح د خاطره ډیر تکلیفونه تیر کړی دی. آیا تاسو کله د مسیح د خاطره تکلیف تیر کړے دے؟ څنګه؟

۵. د تکلیفونو په حقله پولوس رسول څنګه خیال کولو؟



# په ياده ياد کړئ

۱. د بائبل مقدس د لسمی او يولسمی هفتی آيتونه ولولئ. يوحنا ۱۵ : ۴ او اول پطروس ۵ : ٦ - ٧

۲. د دولسمی هفتی د بائبل مقدس آيت:

" د دِ د پاره زما ورونړو! زۀ د خدائی رحمتونه تاسو ته درېادوم او درته خواست کوم چی خپل ځانونه هغۀ ته د داسی ژوندئ قربانئ د پاره وړاندی کړئ چی هغۀ ته قبوله او مناسب وی،او ستاسو عبادت دِ د زړۀ او پوهی دواړو له رويه معقول وی. خپل ځان د دِ موجوده دُنيا په شان مۀ جوړوئ،بلکه بويه چی ستاسو پوهه بيا نوی کړے شی او د دِ په وسيله ستاسو فطرت بلکل بدل شی. بيا به هله تاسو د دِ قابل شئ او په دے به پوهه شئ چی د خُدائی رضا څۀ ده او دا به وپيژنئ چی هغه ښۀ څۀ دے چی قبليدُونکے او کامل دے." روميان ۱۲ : ۱ - ۲



# ضمیمه:۱ : د بائبل مقدس د سیپارو نومونه

## په زړه لوظ نامه کښی تقسیم او د سیپارو نومونه

### تاریخی ۱۷ سیپاری

تورات:
- پیدایښت
- هجرت
- احبار
- ګنتی، شمیر
- استثنا

تاریخی سیپاری:
- یشوع
- قضاة قاضیان
- روت
- ۱-سموئیل
- ۲-سموئیل
- ۱-سلاطین بادشاهان
- ۲-سلاطین بادشاهان
- ۱-تواریخ
- ۲-تواریخ
- عزرا
- نحمیاه
- آستر

### شاعری (۵ سیپاری)

- ایوب
- زبور
- امثال
- واعظ
- غزلُ الغزلات

### پیشن ګوئی ۱۷سیپاری

لوئ پیغمبران:
- یسعیاه
- یرمیاه
- نوحه
- حزقی ایل
- دانی ایل

په رُتبه کښی د نورو نه لږ واړهٔ پیغمبران:
- هوسیع
- یوایل
- عاموس
- عبدیاه
- یوناه
- میکاه
- ناحوم
- حبقوق
- صفنیاه
- حجی
- زکریاه
- ملاکی

## په نوی لوظ نامه کښې څلور تقسیمونه

| زیرے | اعمال د رسولانو | خطونه | مکاشفات |
|---|---|---|---|
| متی | | رومیان | |
| مرقوس | | کورنیتیان ۱ ، ۲ | |
| لوقا | | ګلتیان | |
| یوحنا | | افسسیان | |
| | | فیلیپیان | |
| | | کولوسیان | |
| | | تسالونیکیان ۱ ، ۲ | |
| | | تیموتیوس | |
| | | تیطوس | |
| | | فیلیمون | |
| | | عبرانیان | |
| | | یعقوب | |
| | | پطروس ۱ ، ۲ | |
| | | یوحنا ۱ ، ۲، ۳ | |
| | | یهوداه | |

# ضمیمه:۲ : د هری هفتی سرنامی او نومونه.

| | | |
|---|---|---|
|  | پیدایښت | حضرت آدم |
|  | بزرګ | حضرت ابراهیم |
|  | هجرت | حضرت موسیٰ |
|  | برے | حضرت یشوع |
|  | قاضیان | حضرت جدعون |
|  | بادشاهی | حضرت داؤد |
|  | شړل | حضرت دانی |
|  | واپسی | حضرت نحمیاه |
|  | خاموشی | (بیا کتل) |
|  | زیرے | حضرت عیسیٰ |
|  | جماعت | پطروس رسول |
|  | تبلیغ | پولوس رسول |

# ضمیمه: ۳ : د بائبل مقدس د آیتونو اِزده کول

## اوله هفته

" لکه څنګه چی ټول خلق چی د آدم اولاد دی، مری، هغه شان څوک چی د مسیح دی ټول به ژوندی کړے شی." اول کورنتیان ۱۵: ۲۲

## دویمه هفته

" حضرت ابراهیم په مالِک خدای یقین وکړو، نو په دِ وجه مالِک خدای د هغهٔ نه رضا شو او هغه یی قبول کړو" پیدایښت ۱۵ : ٦

## دریمه هفته

"د ایمان په سبب چی موسیٰ لوئ شو نو د فرعون د لُور د زوی بللو نه یی انکار وکړو. ځکه چی هغهٔ د ګناه د ژوندون د یو څو ورځو د خوند آخستو په نسبت د خدائ د اُمت سره د بدسلوک زغمل زیات خوښ کړل." عبرانیان ۱۱ : ۲۴ - ۲۵ .

## څلورمه هفته

" ولی ما تا له حُکم نهٔ دے درکړے؟ نو مضبوط شه او حوصله وساته! یریږه مه او بی زړهٔ کیږه مه، ولی چی مالک خدائ ستا خدائ پاک تاسره دے هر چرته چی تهٔ ځی." یشوع ۱ : ۹

## پینځمه هفته

"نهٔ به زهٔ په تاسو حکومت کوم او نهٔ زما زوئ. بلکه خدائ پاک به په تاسو باندی حکومت کوی." قاضیان ۸ : ۲۳

## شپږمه هفته

" زما د خلی کلام او زما د زړهٔ خیال دِ ستا په نظر کښی قبول وګرځی، اے مالکه تهٔ زما تیګه او زما شفاعت کونکے یی." زبور ۱۹ : ۱۴

## اوومه هفته

"ستا خدائ پاک د چا چی همیشه عبادت کوی به پخپله تا آزاد کړی."

دانی ایل ٦ : ١٦ ب

## اتمه هفته

"خفه کیږئ مه ولی چی د مالک خدائ خوشحالی ستاسو قوت دے." نحمیاه ٨: ١٠

## نهمه هفته

دوباره کتل

## لسمه هفته

"په ما کښی اوسئ لکه زهٔ چی په تاسو کښی اوسم. یوه څانګه هم د خپله څانه میوه نهٔ شی نیولے،تر څو چی هغه د انګور د بوټی سره پاتی نهٔ وی. تاسو هم تر هغی میوه نهٔ شئ نیولے تر څو چی تاسو په ما کښی نهٔ اوسئ." یوحنا ١٥ : ٤

## یولسمه هفته

"نو بیا د خدای د مضبوط لاس د لاندی په حلیمئ اوسیږئ چی هغه تاسو په وخت باندی سربلند کړی. او خپل ټول فکر په هغهٔ واچوئ ځکه چی هغه ستاسو خیال لری."

اول پطروس ٥ : ٦ - ٧

## دولسمه هفته

" د دِ د پاره زما ورونړو! زهٔ د خدائی رحمتونه تاسو ته دریادوم او درته خواست کوم چی خپل ځانونه هغهٔ ته د داسی ژوندئ قربانئ د پاره وړاندی کړئ چی هغهٔ ته قبوله او مناسب وی،او ستاسو عبادت دِ د زړهٔ او پوهی دواړو له رویه معقول وی. خپل ځان د دِ موجوده دُنیا په شان مهٔ جوړوئ،بلکه بویه چی ستاسو پوهه بیا نوی کړے شی او د دِ په وسیله ستاسو فطرت بلکل بدل شی. بیا به هله تاسو د دِ قابل شئ او په دے به پوهه شئ چی د خُدائی رضا څهٔ ده او دا به وپیژنئ چی هغه ښهٔ څهٔ دے چی قبلیدُونکے او کامل دے." رومیان ١٢ : ١ - ٢

# د دولسو هفتو

# د پاره بائبل مقدس ته د کتلو

# او د شاګردئ کورس

## په بائبل مقدس باندی

## پوهه زیاته کړئ

د بائبل مقدس نه د دولسو هفتو په سبقونو کښی به داسی پوهه حاصله کړئ چی په راتلونکو کالونو کښی به فائده دررسوی. د بائبل مقدس په معنیٰ باندی، په مختلفو برخو باندی، په هغه واقعو باندی او وختونو باندی چی دا سیپاری پکښی ولیکلے شوی، او په بائبل مقدس کښی د یو څو شخصیتونو په تاریخ باندی به پوهه شئ، او د دِ به په تاسو باندی دومره اثر وشی چی د مقدس کلام نه دا قوتناک سبقونه به په خپل ژوندون کښی عملی کړئ.

دا کتاب په کلاس کښی د مباحثی کولو د پاره اوچته درجه لری. تاسو دا د بائبل مقدس د مطالعی د پاره یواځی هم کتلے شئ. دواړو طریقو سره به تاسو په بائبل مقدس باندی ښهٔ پوهه شئ او دا په خپل روزانه ژوند کښی عملی کړئ.